# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۱۹) ګڼه / شنبه ۲۱ جمادی الثانی ۱٤٤٤ هـ.ق/ ۲٤ جدی ۱٤۰۱ هـ.ش / ۱٤ جنورى ۲۰۲۳ میلادي


**ضمیر کابلوف:**

## روسیه د افغانستان کورنیو چارو کې لاس وهنه نه غواړي

شریعت: د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي، تېره ورځ د افغانستان لپاره د روسیې د ولسمشر له ځانګړي استازي ضمیر کابلوف سره وکتل. په دې کتنه کې د بهرنیو چارو وزیر د افغانستان او روسیې پر دوو اړخیزو اړیکو، سیمه‌ییزو مسایلو، اقتصادي همکاریو او په افغانستان کې د وروستیو پرمختګونو په باب هر اړخیزې خبرې وکړې. نباغلي متقي ویلي، چې روسیه د افغانستان په بهرني سیاست کې ځانګړی ځای لري او له روسي لوري یې منته کړې چې په مسکو کې یې افغان سفارت ته ټولې اسانتیاوې برابرې کړې دي. د بهرنیو چارو وزیر زیاته کړې چې افغان حکومت... ۷مخ

**ملا عبدالغنی برادر به والیان و مسؤولان امنیتی:**

# به امنیت شرکت‌های قراردادی داخلی و خارجی توجه جدی نمایید

شریعت: ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء در جریان سفرش به ولایت بلخ از مسؤولان امنیتی و والیان خواست که به هیچ کس اجازه ندهند تا روند پیشرف و آبادی کشور را اخلال نماید. دفتر مطبوعاتی معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء با نشر خبرنامه‌یی گفته است؛ که ملا برادر در حالی‌که شیخ



شهاب‌الدین دلاور سرپرست وزارت معادن و پترولیم وی را همراهی می‌نمود؛ با والیان سرپل، سمنگان، بلخ ، معاون والی جوزجان و رئیسان معادن این ولایت‌ها و مسئول قول اردوی ۲۰۹ الفتح دیدار کرد.
در این دیدار، معاون اقتصادی در مورد استخراج معادن، شفافیت، انتقال و تطبیق قراردادها به ویژه در مورد سرعت بخشیدن روند استخراج زغال سنگ به شکل فنی و معیاری به آنان هدایات لازم داد.
وی به اشتراک کنندگان مجلس گفت: ... ص۷

**د اسلامي امارت وياند:**

## د نجونو د زده کړو برخه کې موقتي ګام اخيستل شوی

اسلامي امارت د اسلامي همکاریو سازمان د اعلامیې په ځواب کې ویلي چې د ښځو او نجونو د زده کړو په برخه کې یې موقتي ګام اخیستی او کله چې زمینه برابره شي، دا اندېښنه به لرې شي.
د اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح الله مجاهد... ۷مخ

**د بهرنیو چارو وزیر له خپل ایراني سیال سره په تماس کې:**

## اسلامي امارت به هیڅ دښمن پرېنږدي چې امنیت اخلال او هېوادوال تشویش سره مخ کړي

شریعت: د ایران د بهرنیو چارو وزیر امیر عبداللهیان د بهرنیو چارو وزارت له سرپرست مولوي امیر خان متقي سره په ټیلیفوني خبرو کې د بهرنیو چارو وزارت پر سرک چاودنه په کلکو ټکو وغندله او د خپلې ژورې خواشینی، همدردۍ او تسلیت مراتب یې وړاندې کړل او د یادې پېښې... ۷مخ

## کابل کې ۷ تنه د بېلابېلو جرمونو په تړاو ونیول شول



امنیتي سرچینو په پلازمېنه کابل کې د بېلابېلو جرمونو په تور د ۷ تنو د نیول کېدو خبر ورکړی دی.
د کابل امنیې قومندانۍ د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې امنیتي ځواکونو د کابل ښار د ۸ مې امنیتي حوزې په مربوطاتو کې ۷ تنه د بېلابېلو جرمونو په تور نیولي دي. د خبر پاڼې د مالوماتو له مخې د نیول شویو کسانو له ډلې څخه ۳ تنه یې د موټرو د غلا په تور، یو تن یې له کورونو د غلا او ۳ تنه نور یې له خلکو څخه د پیسو او مبایلونو د غلا په تور لاس په لاس نیول شوي دي. د یادونې وړ ده، چې امنیتي ځواکونو تر دې وړاندې هم لسګونه کسان د بېلابېلو جرمونو په تور نیولي وو.

**سفیر ایران در کابل:**


## بهترین فرصت برای سرمایه گذاری در حوزه معادن افغانستان به وجود آمده‌است




آژانس باختر: سفیر ایران در کابل٬ شرایط کنونی را بهترین فرصت برای سرمایه گذاری در معادن افغانستان می داند.
حسن کاظمی قمی سفیر و نماینده ویژه‌رییس جمهور ایران برای افغانستان می‌گوید: اکنون بهترین فرصت برای سرمایه گذاری... ص۷

## در جلسهٔ کمیسیون اداری پیرامون اعمار استدیوم بین المللی کرکت در کابل بحث صورت گرفت

شریعت: جلسه کمیسیون اداری به ریاست مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست‌الوزرای امارت اسلامی روز گذشته برگزار گردید. دفتر مطبوعاتی ریاست‌الوزرا با نشر خبرنامه‌یی گفته است؛ در این جلسه که همه اعضای کمیسیون حضور داشتند... ص۷



## هلمند کې د اوبو رسولو یوه‌شبکه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه

شریعت: د هلمند په موسی قلعه ولسوالۍ کې د نږدې ٦ میلیونو افغانیو په لګښت د پاکو اوبو یوه شبکه تېره ورځ ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
د دغه ولایت د کلیو، بیا رغونې او پراختیا رئیس ملا محمود ثاني وویل، چې د پاکو اوبو... ۷مخ

**سرمقاله**

## د تکفيري انګېرنو پر خلاف جدي مبارزه په کار ده!

د کابل د تېرې چارشنبې ناوړه ځان وژونکې پېښه یوځل بیا زموږ د یو شمېر بې ګناه هېوادوالو د مرګ ژوبلې سبب شوه. داچې د پېښې مسؤلیت داعش پرغاړه واخیست او دایې یو استشهادي بریدوګانه نوښکاره ده چې تر سره کوونکی یې حتماً پریوه داسې تکفيري عقیده روزل شوی چې ټول امارت مرتد او ګرد افغان ولس بلکې ټول مسلمان امت د داعشي خلافت نه منلو پـه وجه باغي اوکافر بولي چې په وینایې طبعاً بیا د همدوی د خلافت لپاره هڅه هاند ستر جهاد او قربانیان یې پاخه شهیدان او د لویو درجو خاوندان دي. په دې کې هیڅ شک نشته چې د خوارجو تکفيري ډله په مسلمانانو کې ډېره پخوانۍ مخینه لري، خو څرنګه چې هغو زمانو کې د اوس په شان نړیوال پیوستون نه و، د اسلام نورو د ښمنانو هم ونه شو کولی چې یاده ډله اکمال او د خپلو موخو لپاره استعمال کړي. خوله بده مرغه نن سبا د نویو استخباراتي تکتیکونو او وسایلو پرمټ دا هرڅه خورا ډېر اسانه شوي او دادی ټول اسلامی امت ولیدل چې داعشي دولت څومره ژر د نړیوالو کفري ځواکونو لومو کې ونښت اوبیایې ګڼو اسلامی هېوادوته څومره خطرناک زیانونه ورسول. په دې اساس معلومه ده چې په دې زمانه کې داعشي فتنه او تکفيري عقاید سل سلنه د نورو کفري ځواکونو لاس ته ورغلې، هماغه یې ساتنه او پالنه کوي او فقط د خپلو اهدافو لپاره کار ترې اخلي. که څه هم د دغه حقیقت درک د لمر په څېر واضح دی خو په ډېر افسوس چې بیا هم یو زیات شمېر په اصطلاح سلفی یا اهل حدیث استادان او ملایان پټ اوښکاره دهمدغې تکفيري ډلې تایید کوي. بناء پردې موږ ویلی شو چې اوس مهال د دغو تکفیریانو مالی او تخنیکي ملاتړ دنړیوالو کفري ځواکونو له خوا تر سره کیږي خو فکري او نظریاتي تقویه یې د څوشاذ، نادرو او په نوم سلفي استادانو کار دی. دا زښته ډېر یو تریخ حقیقت دی او باید چې زر تر زره یې مخه ونیول شي. موږ بیا هم ټینګارکوو چې د داعشیانو د خلافت ناره غلطه، بې منطقه او سراسر نامعقوله او هیڅکله د تطبیق وړ نه ده. ایا څوک باورکولی شي چې د خلافت دقیام لپاره د اسلامي نړۍ ګرد سره جهادي دعوتي او سیاسي غور ځنګونه، تحریکونه، علماء او مخور له منځه یو وړل شي، پرټول امت دکفر و ارتداد فتوا ولګول شي او ترهغه وروسته یو اسلامي خلافت قایم شي؟ خو بیا هم په ډېر افسوس او خواشینۍ چې... ۷مخ

## هوایي ځواکونو په جوزجان کې ۱٤ تنه له واورو وژغورل



شریعت: د جوزجان په فیض آباد ولسوالۍ کې ١٤ تنه مسافر چې د سختې واورې او توپان له امله بند پاتې وو، تېره ورځ د مزارشریف د هوایي لواد عامه‌ساتنې د ځواکونو له لوري وژغورل شول.
د مزارشریف د هوایي... ۷مخ

## شیخ ندا محمد ندیم برنامه‌ها و نیازمندی‌های وزارت تحصیلات عالی را با عبدالسلام حنفی شریک ساخت

شریعت: مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزرای امارت اسلامی افغانستان، در دیداری با شیخ ندا محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی و مسوولان این وزارت، پیشنهادهای آنان را در رابطه به بهبود وضعیت تحصیلی در کشور شنید.
در این دیدار، در رابطه به پروژه‌های نیمه کارهٔ وزارت تحصیلات عالی و جا دادن آن‌ها در بودجهٔ سال مالی ١٤٠٢، تزئید در تشکیل اکادمیک و اداری آیندهٔ آن وزارت، حمایت از افزایش معاش استادان... ص۷

## د علمي پېشرفت بیا ارزونه؛ د وخت مهمه اړتیا

۲مخ

## فخر انتقام؛ یا جنون بی پایان

۳مخ

## ګاونډیه انډیواله خره دې لنډ تره!

٤ مخ

## شاهراه سالنگ به روی ترافیک مسدود گردید

شریعت: وزارت فواید عامه می گوید که شاهراه سالنگ به دلیل توفان، بارش برف و سرمای شدید به روی ترافیک مسدود گردیده است.
این وزارت روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت که: شاهراه سالنگ، به منظور جلوگیری از تلفات جانی و خسارات مالی مسافرین؛ به روی ترافیک مسدود شده است.
در خبرنامه آمده است که هوا در سالنگ بسیار سرد (منفی ۳۲ درجه سانتی گراد) است و از عابرین خواسته است که تا اطلاع بعدی بر این شاهراه تردد نداشته باشند.

## ننګرهار کې ۸۰۰ جریبه دولتي ځمکه تثبیت شوه

په ننګرهار کې د غصب شویو ځمکو د مخنیوي او بېرته راګرځولو تخنیکي کمېټې په سره رود ولسوالۍ کې ۸۰۰ جریبه دولتي ځمکه تثبیت کړې ده. د باختر آژانس د خبر له مخې؛ د دغه ولایت... ۷مخ



## دو شرکت چینی در بخش استخراج معادن لیتیوم غزنی سرمایه‌گذاری می‌نمایند

شریعت: دو شرکت چینی از معادن لیتیوم ولسوالی‌های زرکشان و ناهور ولسوالی مقر غزنی نمونه برداری نموده و می‌خواهند در این دو معدن، سرمایه‌گذاری نمایند.
مولوی حضرت یوسف صهیب، رئیس معادن و پترولیم غزنی گفت که این دو معدن نیازمند میلیون‌ها دالر امریکایی برای. سرمایه گذاری است، و استخراج این دو معدن می تواند، مشکلات اقتصادی کشور را تا حدی حل کند.وی افزود، بیست و پنج معدن غزنی همچنان در حال استخراج است و تنها در سال جاری، هجده معدن جدید در این ولایت، کشف شده است. هجده معدن تازه کشف شده مرمر، سنگ رخام، زغال سنگ، سلفر و سایر مواد گرانبها هستند که روند استخراج از آن‌ها در سال آینده آغاز خواهد شد.

## بغلان کې نږدې ۷۵۰۰ جریبه ځمکه له غصبه خلاصه شوه

د بغلان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسؤلین وایي، چې د دې ولایت په دهنه غوري ولسوالۍ کې د غصب مخنیوي کمېټې نږدې ۷۵۰۰ جریبه دولتي ځمکه له غصب څخه خلاصه کړې ده.
د بغلان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست د معلوماتو برخې مدیر ولي امرخېل د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې د دهنه غوري ولسوالۍ په منګلو، چینزایو او بې بې ګهوارې سیمو کې د دولتي ځمکو د غصب مخنیوي کمېټې ۷۴۵۷ جریبه ځمکه تثبیت او له غصب څخه یې خلاصه کړه... ۷مخ



## آغاز کار ۶ پروژهٔ آبرسانی در جوزجان

شریعت: کار شش شبکهٔ آبرسانی به ارزش دو صدو پنجاه هزار دالر امریکایی در ولسوالی فیض آباد جوزجان، آغاز گردید. مسؤولان ریاست احیا و انکشاف دهات جوزجان می گویند که این شبکه‌های آبرسانی از سوی برنامه انکشافی سازمان ملل تمویل، توسط دفتر ( RRAA ) با همکاری ریاست احیا و انکشاف دهات تحت عنوان «اقدام مشترک برای توانمندی جامعه» در ولسوالی فیض آباد جوزجان، تطبیق می‌شود. مولوی اسدالله حمزه رئیس احیاء و انکشاف دهات جوزجان گفت که با تکمیل شدن این پروژه‌ها، بیشتر از هفت صد و سی و نه خانواده از آب آشامیدنی صحی مستفید می‌شوند




سالمزی

زمانظـر دا دی که زموږ دینـي علمای کـرام او ځـوان علمـي کدرونه پخپلو کې همغږي شي، موږ کولی شـو په هیواد کې د غربي اشـغالګرو څخه په میـراث راپاتي بوږنوونکي او دردوونکي حالت ته تغییـر ورکړو او د پرمختـګ پـه لور چټک او ګټـور ګامونه واخلو او د نـړۍ له پر مختلـلي کاروان سره د سیالۍ جوګه شو دا ځکه چې دیني علمای کرام زموږ د مسلماني افغاني ټولنې یونه بیلدونکی جز، د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د منبر وارثین او زموږ د ملت رهنـما دي او همدارنګه ځوانان چې د یوې ټولنې د ملاتیر حیثیت لري په اسلامي او فکري روزنه تربیه او وروزل شي، موږ کولی شو دهمدغه ځوان نسل په اسلامي او عصري روزنه او همدارنګه د روزل شویو کدرونو د پوهې په انتقالولو سره د خپل ځوان نسل د پوهې او استعداد پرمټ چې د هیواد روښانه راتلونکې به همدوی ټاکي لکه چې شاعر وایي!

په متو د ځوانانو خپل وطن آباد وو!
که خاورې مو خوراک شي نوی ژوند ایجادوو

خو دا هر څه په علم او پوهې ترلاسه کیږي او له پوهې او زده کړې پرته موږ نشو کولی پرمختګ وکړو او روښانه راتلونکې ولرو. زموږ په هیواد کې د څلورلسیزو جنګونـو لړۍ هم زموږ د بې علمۍ عمـده بیلګه ګڼل کیږي چې ګویا زموږ جهادي مشرانو ونه شو کړای د پردیوله نیابتي او استخباراتي تپل شویو جنګونو څخه خپل ځان او ملت وژغوري. اوس چې د واک واګې د دیني علمای کرامو په لاس کې دي مکلف دي چې خپل ځوان نسـل ته د تربیت اوښـې روزنې شرایط برابر کړي او نور غفلت ونکړي چې زموږ هغه داخلي او بهرني دښمنان چې د موقع په لټه اوکمین کې دي زموږ له غفلت ګټه واخلي، پکار ده چې شپه او ورځ کوښـښ وکړو او له وخت څخه اعظمې ګټه پورته کړو او خپل هیواد او ملت له روان بحران او د پردیو له نیابتي او استخباراتي جنګونو وژغورو او د نړۍ د استعماري او استکباراتي طاقتونو د زهریه وسلو د استعمال دغه ډګر په یوه علمي ډګر بدل او نور چاته ددې اجازه ورنکړو چې زموږ په کورنیو چارو کې مداخله وکړي او یا زموږ په هیواد کې خپلې موخې او اهداف ترلاسه کړي چې قربـاني یې زموږ بې ګناه او مظلوم ملت وي او یا زموږ په بې عزتۍ کې خپل عزت ګوري، غاښ ماتوونکي ځواب ورکړو. دا زموږ د واکمنو سیاسي بصیرت علمي کدرونو او ځوان نسل همغږۍ او سالمې روزنې ته اړتیا لیدل کیږي او نور وخت ضایع نشي، پدې برخه کې زرتر زره عملي اقدام وکړی دا یو منلی او څرګند حقیقت دی چې دښمن ته د معرکې په ډګرکې وخت ورکول د بدو پایلو پرته بل څه نه لري، دښمن زموږ له ویښتیا او بیدارۍ ډاریږي او نه غواړی موږ بینا او پوهه ترلاسه کړو بلکې غواړي موږ ړانده او ذلیل وساتي او د احتیاجاتو د پوره کولو توان ونلرو او همیش هغوی ته محتاج پاته شـو په داسي حال کې چې زموږ هیواد د طبیعی زیرمو ډک دی که موږ پوهه ولرو او د خپل استعداد پرمټ په کوردننه خپل طبیعی ذخایر راوسپړو او همدارنګه له خپلو او بو څخه ګټه واخلو پخپلو سیندونو بریښنا بندونه جوړکړو چې پدې سره موږ کولی شو د وارداتي بریښـنا له ستونزې د تل لپاره خلاص شو او د خپلې پیاوړې بریښنا پرمټ لسګونه فابریکې فعالی او زرګونه هیوادوالوته د کار زمینه برابره شي خو دا هرڅه له پوهې اوزده کړې بغیر نا شوني دي که علم او پوهه نه وي زموږ هیواد به همداسي وروسته پاتي او د پردیو دنیا بتي جنګونو ډګروی او ملت به مو له دغه حالت څخه ځوریږي تر څو چې موږ خپل حالت ته خپله تغییر ورنکړو خدای هم زموږ دغه حالت ته بدلون نه ورکوي لکه چې شاعر وایي!

خدای هم نه بدلوي حال د هغه قوم!
څوک چې نه بدلوي خپل حالت پخپله
د یوه پر مختللي افغانستان په هیله و من الله توفیق

# دیني مرجعیت

حفیظ الدین پیرزاده

دروند علمي شخصیت دکتور عبید الله برهاني وایي:
آیا پوهیږئ! ولې د اسلامي امارت د افرادو د سیاسي او دیني افکارو تر منځ تناقض او په ځینې مواردو کې ان ټکر لیدل کیږي؟
لامل یې ښایي په دیني برخه کې دا وي چې موږ په اجتهادي فقه کې ثوابت نه لرو همدا راز زموږ سیاسي اسلامي تصور هم د مختلفو فکري مکاتبو اندونه دي چې د افرادو او اشخاصو له اړخه د امارت په استازیتوب وړاندې کیږي!
ځکه نو د امارت نظر د خپلو افرادو او د افرادو له امارت او د صف د نورو ملګریو له نظریاتو سره په تناقض کې واقع کیږي!
د دې ستونزو د حل لپاره دیني او سیاسي مرجعیت حتمي دی، تر څو د یوې داسې شوری بنسټ را جوړ کړي چې د کار ساحه یې پراخه او پریکړې یې الزامی وي، داسې شوری چې د ستر فقیه امام ابو الحسن الماوردي د مواصافاتو پر بنسټ وی، داسې شورا چې غړي یې تکړه دیني علماء، مسلکي کادرنو، قومی مخور د قانون او سیاست او سیاسی فقهی متخصص علماء د دهیواد د علیا منافعو د تشخیص متخصصین او نور وي! دا شورا به د هیواد په کچه په سترو سیاسی او دیني اجتهادي مسائلو کې د آخري مرجع په توګه پیژندل شوې وي او د پریکړو منل به یې الزامي وي، نو له ډیرو سترو ستونزو څخه به مو ځانونه، ولس او امارت ژغورلای وي!
د دې شورا ځینې عاجلې ګټې دا دي:
۱ - دا شورا د فرد محورۍ مخه نیسي
۲ - دا شـورى د افرادو او اشخاصو د شخصی او سلوقوي اجتهادا سلیقوی مخه نیسی
۳ - دا شورا د مختلفو رایو په اتفاق. د متشدد فکر او سخت دریځو کړیو مخه نیسی
۴ - دا شـورا به د یو معتدل فکرو او د هیواد او نظام د مصلحت درک ته په پام کی نیولو سره پریکړی کوی
۵ - دا شورا به د لنډ اندو کړیو او نا متوازنه حکمونو تر منځ د افراط او تفریط مخه نیسی
٦ - دا شورا به د دیني مسایلو په اړه د حنفی فقهې او د هیواد مُسلَم کلتور ته په توجه ته خپلې پریکړې کوي
۷ - او بالآخره به دا شورا د قانوني، سیاسي او دیني اعلی مرجعیت پر اساس دهیواد د مختلفو مسایلو د حل او د ولس سره د پیوستون سبب شي! ان شاء الله العزیز
والله المستعان

# د علمي پېشرفت بیا ارزونه؛ د وخت مهمه اړتیا

عبدالحی قانت

نړۍ کې چې څومره علوم او فنون وجود لري واقعیت کې پـه دوو برخو ویشـل کېږي. اوله برخــه علوم او فنون هغـه حقیقي علوم دي چــې د تحقیق، بحث یا د وحې پـه نتیجه کې راپیدا کېـږي. دوهمه برخه هغه علوم دي چــې له اولې برخه د علومو له راجمع کولو، ترتیـب کولو او بیـا په یو منظم شـکل د خلکو مخ ته له وړاندې کولو راپیدا کېـږي. اوله برخه علوم واقعي او حقیقــي علوم نوموو. دوهمه برخــه هغه علوم دي چې د ژوند چارو، پدیدو د تشریح او بشري مشکلاتو د حل لپــاره یې پوهان ترتیبوي او بیــا خلک د هماغه ترتیب په اســاس د پدیدو او مســائلو تحلیل،بر رسي او عمل کوي.

د نړۍ په مخ چې څومره آیډیالوژۍ، افکار، فلسفې او د ژوند تېرولو لارې چارې د پوهانو لخوا ترتیب شوي دغه دوهمه برخه علومو کې شـمېرل کېږي. د همدې علومو په اســاس چې د مســائلو او پدیدو په اړه کوم فکر رامنځ ته کېږي، تمدن بلل کېږي.

د تاریخ په پاڼو کې یو وخت داســې تېر شوی چې دغه برخــه کې د یونــان د آتن علمــاؤ کار کاو. دوی د یو تمدن بنیاد کېښود او په علومو کې یې د نقد او تحقیق نوې لارې پرانیستې. د دوی د علمي کار برکت ؤ چې غرب په یو نوي علمي انقلاب بدل شو.

د اســلام له راتګ سره په اسلامي نړۍ خدای دا فضل وکړ چې له فلســفو پورته یې د وحې په وسیله دوی ته د ژوند چارې وښــودلې. اسلام د ژوند تېرولو، ټولنیزو چارو او بشــري پرمختګ ته د یو نــوي مېکانېزم بنیاد کېښــود. دا بنیاد د وخت په تېرېدو سره غني شو او تر څو چې په دغــه برخه کې د تحقیق او زده کړې چارې رواني وې، د مســلمانانو تمدن له ورځې بلې د عروج آسمان څکې لوري لمسولې.

د اســلام په راتګ ســره زمونږ مبارک دین انسانانو ته د هغه اولــې برخې ټول اصول د پیغمبر اســلام صلی الله علیه وســلم په رســالت توضیح کړل. مسلمانانو تــه یې د همدې علومو د راټولولــو او د دې په رڼا کې د نوو راپیدا کېدونکو پدیدو په باب د ترتیب مســؤلیت پرېښــوده. همدې کار ته په دیني ادبیاتو کې اجتهاد او په عصري ادبیاتو کې تحقیق یا څېړنه وایي.

د دې تحقیــق او علومــو برکت و چې د مســلمانانو ټولواکــي یې د نــړۍ کونج کونج ته ورســوله. دا هغه وخت و چې فرانســې عیســویانو به د اندلس په ښار کې له مسلمانو پوهانو علوم او فنون زده کول. د امین او مامــون په وخت کــې د وخت ســلطانانو په بغداد کــې دار الترجمه جــوړه کړه او مســلمانانو ته یې امر وکړ چې د سنســکرت، یونان او نورو پخوانیو فلســفو ټول کتابونه عربي ته وژبــاړي. د بغداد د دارالترجمې کمال ؤ چې مســلمانانو په هغه وخت کې لوی علماؤ پیدا کړل. هلته مســلمانو علماؤ د آتن او سنســکرت فلســفې ولوســتلې او هغه یې د اسلام د اصولو په رڼا کې د وخت په اســتدلال رد کړې. دا هغه وخت ؤ چې مســلمانانو د نړۍ واکې په لاس کې درلودلې او د نړۍ د برلاسي تمدن رهبري یې کوله.

علــم او تحقیق د یو تمــدن په پېشــرفت او د نړۍ په رهبرۍ کې داســې مثال لري لکه د یــو موټر چلونکی چې په بس کې ناســتو ســپرو ته مسیر ورکوي. تر هغه ورځــې چې د اجتهاد او تحقیــق کار جاري ؤ تر هغې د اســلامي تمدن پیشــرفت ورځ تر بلې نــړۍ ته نوي ارمغانونه راوړل.

مشکل هغه وخت را ولاړ شــو چې کله د عثمانیانو په وخت کې د عثماني ســلطنت ځینې ځانغوښــتو او د قدرت په نشه اخته سلطانانو علوم، تحقیق او پېشرفت د خپلې امپراطورۍ د زوال په مانا وباله. مسلمانانو په لومړي ځل د عثماني ســلطنت پــه وخت کې پر ېنټر یا د چاپ ماشــین جوړ کړ. دا داســې پېشرفت ؤ چې د نړۍ یوې برخې یې هــم مثال نه درلود. د چاپ د دغه ماشــین بنیادي تأثیر به دا ؤ چې اســلامي فلسفه او د اســلامي نړۍ د لویو علماؤ علمي پانګه د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورســېږي او د دغه تمدن پــه پراختیا کې رول ولوبوي خو د عثماني سلطنت د هغه وخت مشرانو په لنډ فکر د چاپ ماشــین عثماني امپراطورۍ ته ننګونه وه. د دوی په فکر ښــایي آینده کې دې ته لاره خلاصه شوای وای چې خلک د سلطنت پر وړاندې لیکل نشر کړي او د د قدرت په کدۍ ناست مشران وننګوي.

دا هغه فکرو چې عثماني امپراطوري او د مســلمانانو یو تاریخــی حکومتولۍ کې یې د جمود څپې رامنځ ته کړې. همدا جمود بیا وروســته په انحطاط بدل شو او په عکس العملي ډول په داســې شــکل له منځه ولاړه چې تر نن ورځې یې رغول نا ممکن برېښي.

دا یو طبیعي ســنت دی چې د علمي تحقیقاتو نه شتون جمــود او جمود انحطاط تــه لاره پرانیزي. د انحطاط لوی خطــر دا دی چې عام خلک د پرزول شــوي او مغلوب فکــر خبره نــه اوري او په همدې شــکل یو برلاســی تمدن د عروج پر ځای د زوال الدرک الأسفل ته لوېږي.

د اهمیت له بحث که تېر شو، اسلامي نړۍ دا مهال له هر څه مخکې علمي او تحقیقي پېشرفت ته اړتیا لري. دا تحقیق د طبعي، انســاني او دیني علومو تر څنګ د بل هر هغه علم په اړه مهم دی چې د اوســني انســان ژوند ورسره تړل شوی دی.

دا چې غرب نن د نــړۍ په ګوټ ګوټ حکومت کوي اصلي لامــل یې په علمــي ډګر کې د دوی بېســاری پرمختــګ دی. د همدې نني غــرب کمال دا ؤ چې له نــن څخه ۴۰۰ کالــه مخکې یې د آتن او مســلمانو علماؤ فلســفې یې راواخستلې او خپل تحقیق یې پرې پیــل کړ. دا هو بهو هغــه کار ؤ چې یو وخت د عروج په بام ناستو مســلمانانو د دمشق، بغداد او اندلس په کتابخانو او لابراتوارونو کې کړی ؤ.

دا چې نن بیا د مســلمانانو د عروج لمر راختونکی دی زمونــږ لومړی وظیفه دا ده چې بایــد د علم او تحقیق په میدان کې پېشــرفت او پرمختګ ته سینه پراخه کړو. دې کې هېڅ شک نشته چې مونږ نشو کولای په اوسنی عصــر کې د غرب لــه تمدن څخه په کاپــي کولو دغه لویه تجربه تر ســره کړو. دا به هغــه وخت کېږي چې مســلمان علماؤ د یو میکانزم له مخې د اسلامي تمدن د بیا احیاء او داســلامي ویښــتابې د بیا ځلولو په پار د غربــي تمدن کــړی کار راواخلي او په نــوې بڼه یې تحقیق اړ تعلیم ته لاره برابراه کړي.

که مســلمان علماء او حکمرانان اسلام د یو تمدن او د ژونــد تېرولو د اصل په حیــث پیژني او غواړي چې مســلمانان بیا هغه تېر برم ته ســتانه شي چې د تحقیق او تعلیم په برخه کــې جمود زمونږ له غېږې بېل کړی، زه فکــر کوم په لاندې ترتیب کار ته اړتیا لیدل کېږي؛

۱. دا چې غربي تمدن د علومو د ترتیب په یوه فلســفه ولاړ دی، له ټولو لومړی کار ښــایي دا اوسي چې دغه فلســفه او د ژوند طریقه په علمي استدلال رد شي. په دې برخه کې د عربي او هندي نیمې وچې ډېرو علماؤ کار کړی. اوس اړتیــا لیدل کېږي چې دغه کار لا غني شــي او د غرب هغه فلسفي بنیاد وننګول شي کوم چې د نړۍ د اوسنیو مشکلاتو زیږنده ده.

۲. پــه دهمه برخه کې دې ته اړتیا ده چې د اســلامي نــړۍ مفکریــن او د پوهې خاوندان د اســلام د مبین دین په رڼا کې د علومو نوې فلسفه وړاندې کړي. دې برخه کې د شــمالي افریقا، عربي نړۍ او هندي نیمې وچــې لویو علماؤ کار کړی خو د دې اړتیا لیدل کېږي چې دغه علوم بیا له ســره مطالعه شي او په نوې بڼه د بشریت د ټولو مشکلاتو حل لپاره وړاندې شي.

۳. دریمــه برخه د همــدې علومــو او فنونو نصاب جوړول دي. اســلامي حکومت دا مسؤلیت لري چې د اســلام په رڼا کې پوښل شــوي علوم د نصاب برخه وګرځوي او نوي نسل ته د تحقیق او تعلیم زمینه برابره کــړي تر څو دوی د راروان قشــر مشــکلاتو ته د حل لارې پیدا کولو توان او د اســلامي تمدن د پېشرفت او پرمختګ په برخه کې خپله ونډه ولري.

دغه درې برخې کار ښــایي په کرښو کې ډېر لنډ ښکاره شــي خو په عمــل کــې د پیړیــو کار دی. د وخت د مســلمانو او مخلصو مشرانو مسؤلیت دا دی جې دغه لوی کار ته بنیاد کېږدي.

د یــو پرمختللي، هوســا او د علــم په ګاڼه ســمبال افغانستان په هیله

# د امارت او جمهوریت تر منځ توپیر

حسان مجاهد

دامــارت او جمهوریت تر منځ توپیر لــه ډیرو اړخونو روښــانه ده، خو دلتــه غواړو چې ددغــه دوو نظامونو ترمنځ د رایې له پلوه توپیر روښانه کړو.

د جمهوریت په تیر نظام کې د رایې اکثریت (ډیروالی) معتبــر و، په پارلمــان کې چې به د ډیــرو خلکو په رایه او خوښــه کومه پریکړه تصویب شــوه؛ هغه به خامخا د تطبیــق وړ وه، په داســې حال کې چــې د پریکړې په تصویب کې رایه اچونکي به ډیر داســې کســان و چې ســرونه به یې له ماغــزو څخه خالــي و او هیڅ د رایې اهلیت به یې نه درلود.

په امارت کې د رایې اکثریــت نه، بلکې د رایې قوت او کیفیت معتبر دی، د اهل حل او عقد شــورا له خوا چې کوم امیر ټاکل شــوی؛ هغه په رایه کې تردې حده راسخ او قوي دی، که فرضاً دنو موړي له رایې ســره ټول اولس مخالف وي هم، کیدای شــي په واقعي توګه رایه دده په حق باندې وي.

اسلام موږ مســلمانانو ته دغه درس راکوي چې دډیرو وګړو رایه هیڅ کله نــه ده معتبره بلکې قوي رایه داعتبار وړ ده که څــه هم رایه ورکوونکی یو یا زیات وي؛ ځکه په فطرتي ډول په انســانانو کې تر هوښیارانو کم عقلان، تر پوهانو ناپوهان او تر خواصو عوام ډیر وي، نو ولې به دهرچا رایه دقبول وړ وي؟!

الله تعالی فرمایي: ژبــاړه: پیغمبره! که ته په ځمکه کې د ډیرو وګړو اتباع وکړې؛ نو دوی به دې له ســمې لارې ګمرا کړي.

له هود علیه السلام سره چې خپل قوم په مخالفت لاس پورې کړ؛ دټول قــوم رایه دده له رایې ســره په ټکر کې وه، مګر رایه یوازې دهود علیه السلام په حق باندې وه.

داحد په غزا کې رســول اللهﷺ د غــره په یوه برخه کې پنځوس کســان کېښــنول او ورته یې وویل چې زما له اجازې پرته په هیڅ صورت مه راکښــته کیږئ! دجګړې په پای کې دڅلویښتو کسانو رایه دا وه چې جګړه د پای په خــوا ده، غنیمتونه په میدان پراتــه دي نو موږ له غره څخه کښته کیږو او راکښــته شو، خو دلسو کسانو رایه داسې نه وه او په خپل ځای پاتې شو. وروسته د جګړې له ناکامۍ او د مســلمانانو له شکست څخه دا واضحه شوه چې دلسو کسانو رایه په حق باندې وه.

درســول اللهﷺ له رحلت وروسته دعربو بعضي قبایلو د زکات لــه ورکولو څخه انکار وکړ، چې په غبرګون کې یې ابو بکــر صدیق رضي الله عنه دجهــاد اراده وکړه، دعمر فاروق رضي الله عنه په څېر دنورو صحابه کرامو رایه بیا د جهاد نه وه، خو وروسته روښانه شوه چې د أبو بکر صدیق رضي رایه په حق باندې وه.

په نړۍ کې د نویو شــیانو اختراع کله یو ســړی وکړي، کله یو عالم داسې تحقیق وکړي چې په زرګونو علماوو هغه طرف ته پام او فکر هم نه وي؛ دا کار دیو انســان په داسې غوره رایه ګواهي ورکوي چې دډیرو انسانانو رایه ورسره برابره نه ده.

په نړۍ کې ټول وخت یو څوک مشر وي او نورو کسانو ته دده په پلوي امر شــوی وي، که پــه یوه زمانه کې الله تعالی دوه پیغمبران رالیږلي وي، نو هم یو مشر او بل ئې تابع وي لکه موســی علیه السلام مشر و او هارون علیه السلام یې تابع و. داســې نه ده چې هرڅوک به مشر او رایــه ورکوونکی وي؛ ځکه دهر اهــل او نا اهل رایه که قبوله شي نو دا کار هم له الهي حکمته سره مخالف دی او هم په نظام کې دګډوډۍ لامل ګرځي.

# فخر انتقام؛ یا جنون بی پایان

احمد

به دنبال اظهارات جنجال برانگیز و غیر مسؤولانهٔ هری شهزاده بریتانیا در مورد کشتن بیست و پنج نفر در ولایت هلمند، اعضای خانواده‌های قربانیان و مردم افغانستان، خواستار محاکمهٔ شهزاده هری شده اند.

اخیراً رسانه‌های بیرونی گزارشی را به نشر سپرده اند که به استناد آن، هری شهزاده بریتانیا در کتاب خاطرات خود از فجایع غیر انسانی و اخلاقی خود یعنی کشتن بیست و پنج غیر نظامی در افغانستان، پرده برداشته است که این موضوع واکنش‌های را در سطح افغانستان به همراه داشته و بار دیگر درد و آلام مردم زجر کشیدهٔ ما را تازه کرده است.

هر چند این مسأله موضوع تازه نیست، بلکه سالها و بارها، مردم افغانستان در مدت بیست سال گذشته، شاهد قتل، کشتار و به بند کشیدن هموطنان بی دفاع و بی‌گناه شان توسط نیروهای اشغالگر بوده اند، اما کشتار بی رحمانه‌ی شهروندان هلمندی ما، آن هم به دست شهزاده بریتانیا که روزی زمام امور کشوری را که، همواره در امور دیگر کشورها، پیرامون نقض حقوق بشر مداخله و خود را مدافع حقوق انسان‌ها در کره خاکی می‌دانند، به دست می‌گیرد، عمق وحشت، دشمنی و کدورت دیرینهٔ زمامداران انگلیس با مردم آزادهٔ افغانستان را به نمایش می‌گذارد و این مسأله را نیز واضح و روشن می‌سازد که کشورهای عضو ناتو به ویژه بریتانیا، با حملهٔ غیر مسؤولانهٔ شان به افغانستان نه تنها در پی انتقام گیری از مردم سربلند افغانستان بوده اند، بلکه به یغما بردن معادن، آثار تاریخی، ترویج کشت خشخاش، همچنان تولید و ترافیک مواد مخدر، آغشته ساختن جوانان به مواد مخدر، نهادینه ساختن فرهنگ غربی و ایجاد تفرقه‌های قومی و مذهبی، ترویج فساد اداری و اخلاقی و هزاران بدعت دیگر سرلوحهٔ کارشان در افغانستان بود.

از اینرو ادعای پول‌های کمکی این کشورها به افغانستان نیز جزء یک تبلیغ بی اساس چیزی دیگر نبوده و اگر کمکی هم صورت گرفت در بیست سال حضور نظامیان خارجی در افغانستان، توسط عمال بی دین و بی وطن شان که توسط بریتانیا و امثال آن به پست‌های کلیدی گماشته شده بودند، دوباره به کشورهای غرب منتقل شده است.

با باور آگاهان امور سیاسی، عقده گشایی و کین توزی هری، که قطعاً منشأ از سه شکست فجیعانه انگلیس در افغانستان، می‌گیرد، این انسان دهری را واداشته تا با کشتن انسان‌های مظلوم و پابرهنه به نحوی انتقام پدرانش را بگیرد، مگر افسوس که این سوال در ذهن این شخص به اصطلاح مدرن، خطور نکرده که افغانان هیچگاهی متجاوز نبوده و این انگلیس، روس، امریکا و شرکایش بودند که بر افغانستان حمله کرده اند، برعکس افغانان شخصیت‌های علمی و دانشمند را به منطقه و جهان عرضه کرده، اما دفاع از سرزمین و ارزشهای ملی و اسلامی شان را حق خود می‌دانند.

بناً حالا که مردم افغانستان خواستار به محاکمه کشاندن هری و امثال آنها شده اند، بدون شک حق مسلم و قانونی شان است که باید از مجرای نهادهای بین المللی پیگری شود، زیرا رسانه‌یی ساختن، قتل و کشتار مردم بی دفاع چون افغانستان و تحریر آن در کتاب خاطرات در حقیقت ضربه‌ی مهلک بر پیکر پوشالی دموکراسی غربی و کشورهای آنان است.

روی این اساس اگر این کشورها و نهادهای بین المللی مدافع حقوق بشر، جنایت هری را پیگری نکنند، بلا شک ماهیت این نهادها و سازمان‌های در ظاهر مدافع حقوق بشر، بیشتر از این، زیر سوال رفته که در آنصورت حق مداخله در امور کشورهای دیگر را نیز نخواهند داشت.

# د نړۍ یو مشهور ملحد فیلسوف (انتوني فلو) څنګه پر الله (جل جلاله) ایمان راوړ؟

فرید احمد (مبارز)

کله چې مشهور برتانوي عالم، فیلسوف او د اکسفورډ پوهنتون پروفیسور انتوني فلو اعلان وکړ: خدای سته، د هغه نژدیو ملحد/ایتیست ملګرو او دوستانو تورن کړ: عمر یې ډېر سوی او د مرګه وروسته مرحلې څخه بیرېږي، په دې اړه یې پوره تحقیق نه دی کړی او علم یې ناقص دی.

انتوني فلو شاوخوا (۵۰) کاله ملحد/ایتیست وو، مګر په ۲۰۰۴م کې یې پر خالق ایمان راوړ او یو غټ کتاب خدای سته. (There Is A GOD) هم ولیکی. دی د یو مسیحي مبلغ زوی وو، چې په ځوانۍ کې ایتیست سو، او په ۲۰۱۰م کې مړ سو.

د ده په کتاب کې دغه دلایل راغلي دي، چې دی یې د الله سبحانه وتعالی پر موجودیت باوري کړ.

دلته د لیکني د لا ساده کولو لپاره یو لنډ وضاحت لیکم:

۱:- ایتیست هغه چا ته ویل کیږي، چې د الله سبحانه وتعالی پر موجودیت باور نه لري.

۲:- اګناستیک هغه چاته ویل کیږي، چې فکر کوي شایې الله سبحانه وتعالی وي، یا نه وي؟

په معاصر وخت کې د نوي ایتیزم مخکښ ریچارد دارکینز دی چې په دې اړه یې کتابونه او مقالې هم لیکلي دي.

انتوني فلو وایي:

۱:- طبیعت د یو قانون په اساس چلیږي (فاعل لري).

۲:- د انسان موجودیت چې د درک او فکر مرکز دی.

۳:- د طبیعت دا ښکلی ډیزاین، جوړښت، نظم، قانون او د قانون سرچینه، (یو ډیزاینر لري)، هغه مسایل دي چې زه یې د الله سبحانه وتعالی پر موجودیت باوري کړم.

انتوني فلو وایي: د ساینس وروستیو پرمختګونو او فلسفي بحثونو هم په دغه برخه کې ډېره مرسته راسره وکړه، باور او فکر یې را بدل کړل.

د انتوني فلو کتاب په پنځو (۵) مهمو دلایلو راڅرخي، هغه دلایل چې دی یې د الحاد څخه راوګرځوه. د خپلو دلایلو د اثبات لپاره خورا ښه فلسفي او علمي مثالونه او د نړۍ د مشهورو فیلسوفا او پوهانو نظریات، خپلې تجربې، مشاهدات او عقلي دلایل راوړي دي.

د الله سبحانه وتعالی د موجودیت په اړه د انتوني فلو پنځه دلایل:

انتوني فلو خپل پنځه دلایل په علمي، ساینسي، فلسفي او عقلي اسنادو او شواهدو څیړلي، واضح کړي او ثابت کړي دي:

۱- د نړۍ فزیکي موجودیت او په دې اړه زموږ معقول مشاهدات او تجربې.

۲- ژوند، د خپلواک او مستقل عمل کولو ظرفیت (خود مختاري).

۳- پوهه/ درک، د پوهیدو ځواک او ظرفیت.

۴- فکري ځواک: د ژبو په وسیله د سمبولونو، بیلګو او نور توکو د پیژندلو ظرفیت.

۵- انسان چې په خپله د ادراک، فکر او عمل (مرکز) دی.

دلته د انتوني فلو هر دلیل په ترتیب سره را اخلم.

۱- د نړۍ فزیکي موجودیت په دې اړه زموږ معقول مشاهدات او تجربې.

انتوني فلو په خپل کتاب کې د دنیا د موجودیت او طبیعت د نظم، قانون او مدیریت په اړه ډېر خوندور بحث کړی دی. د هغه د فکر د بدلیدو یو ستر علت هم د طبیعت قانون او ډسپلین (نظم) دی. دی وایي: که دا ومنو چې نړۍ د بګ بنګ/ سترې چاودنې په نتیجه کې رامنځته شوې ده، نو دا خبره هم باید ومنو چې نړۍ پیل لري او دا پیل یو چا/فاعل کړی دی. دا هم منو چې نړۍ/ ځمکه ځای پر ځای ولاړه نه ده، بلکې متحرکه ده. موږ نه پوهیږو چې نړۍ کله پیل شوې او چا پیل کړې ده، خو په دې پوهیږو چې یو ځواک دا نړۍ څرخوي او دا هر څه تنظیموي. څنګه امکان لري چې بګ بنګ/ ستره چاودنه دې خپله شوې وي او بیا دې دنیا جوړه شوې وي او ژوند پیل شوی وي؟ د ځمکې کره په خپل مدار کې ښه منظمه تاویږي او سرغړونه نه کوي او له بلې هیڅ سیارې سره ټکر نه کوي. دا هر څه تصادف نه شي کیدای، یو ځواک شته چې دا هر څه د پلان او نظم له مخې مخته وړي. د دنیا دا منظم او پیچلی نظام د «الله سبحانه وتعالی پر موجودیت» دلالت کوي.

انتوني فلو د نړۍ د ځینو مشهورو فزیک پوهانو او عالمانو لنډ نظرونه هم په دې اړه اخیستي دي. ده لیکلي دي: انستاین هم په دې باور وو، چې نړۍ د بشریت له ذهن او درک ور اخوا سرچینه اخلي. هغه دا سرچینه فوق العاده (ذهن) بللی دی.

دی وایي: په ساینس کې چې هر څومره ننوځې، هماغومره درته ثابتیږي چې د انسان له ذهن او درک ور اخوا یو بل څه فوق العاده ځواک او ذهن هم شته.

بل مشهور فزیک پوه ستیفن هاکینګز ویلي: که موږ پوه شو چې ولې دلته یو او هدف مو څه دی، دا به د بشریت د وجود نهایي دلیل وي.

خو انتوني وایي: هر څومره پلټنه چې وکړی، بیا هم همدا جوتیږي چې د نړۍ نظم او ډسپلین د یو قانون او ځواک پواسطه روان دی او ناظم لري، دا هر څه تصادف نه شي کیدای.

د ایزاک نیوټن د تحرک قوانین او د الله سبحانه وتعالی د موجودیت ثبوت:

انتوني فلو په خپل کتاب کې د مشهور فزیک پوه او ریاضي دان ایزاک نیوټن تحرک درې فزیکي قوانین تشریح کړي او بیا د همدغو قوانینو د طبیعت د نظم او ډسپلین اساس یې د الله سبحانه وتعالی موجودیت ثابت کړی دی:

د ایزیاک د ترحکم قوانین:

۱- د انرشا قانون: هر متحرک شی/توکی تر خپل اخري حد متحرک وي او هر ساکن شی/توکی تر اخره ساکن وي.

۲- د ځواک+جم او سرعت قانون: هر څه د یو بل څه د زور، حجم او سرعت د اندازې په اساس متحرک کیږي. هر څومره چې د ځواک، حجم او د سرعت اندازه زیاتیږي، متقابل شی هماغومره چټک او تیزیږي. دا قانون د ځواک، حجم او سرعت تر منځ رابطه تشریح کوي.

۳- هر عمل بالمثل او برابر عکس العمل لري.

انتوني فلو د ایزاک د نیوټن د فزیکي قوانینو له تشریح وروسته وایي: ما ته دا جالبه نه ده چې په طبیعت کې یو داسې نظم او ډسپلین موجود دی، جالبه دا ده چې دا نظم په نړیواله کچه د ریاضي او فزیک له قوانینو سره هم برابر او له یو بل سره کلک تړلي دي.

پوښتنه دا ده: طبیعت څنګه داسې ښکلی قانون او نظم لري؟ وایي همدا پوښتنه له ایزاک نیوټن څخه نیولې تر انستاین او هیزنبرګ پورې ساینس پوهانو کړې ده، ځواب یې دی: دا هر څه د الله سبحانه وتعالی د ذهن په اساس تنظیم شوي دي. وایي: ایزاک دا قوانین کشف کړل، خو خلک خبر نه دي چې دا قوانین تر کشف کیدو ډېر مخکې هم موجود وه، او یو ځواک جوړ کړي وو.

وایي: که د طبیعت قانون له خپل چوکاټ او دایرې څخه ووت، ژوند په هماغه ورځ ختمیږي.

ده د خپلو دلایلو لپاره د نړۍ د مشهور فزیک پوه فریمون ډایسن قول را اخیستی دی وایي: د نړۍ او د هغه معمارۍ او جوړښت په اړه چې څومره پلټنه کومه، په دې مې باور نور هم زیاتیږي چې دا نړۍ داسې جوړه شوې وه، چې څوک/موږ ورته را روان وو. یعني موږ ته جوړه شوې وه. یا په بله وینا: د طبیعت قانون د ژوند لپاره جوړ شوی دی.

نور فیلسوفان لکه: مارتن ریس، جان بارو او جان لیسلي هم د دغه نظر په تاکید سره ویلي: داسې ښکاري چې د طبیعت قانون د ژوند د پیدایښت او ژوند د پر مخ بیولو لپاره جوړ شوی دی. یعني جوړوونکی لري.

دی د نورو مثالونو تر څنګ یو بل ساده مثال هم راوړي: تاسو فکر وکړئ چې تاسو چیري په سیاحت ځی او هلته په هوټل کې اوسیږی. د هوټل کوټې ته چې ننوځی، ګوری چې ستاسو د خوښې د خوب تخت، پردې، د خوښې کتاب، د خوښې بالښت، په دیوال ځړېدلی تصویر، خلص دا چې دا کوټه بیخي ستاسو په خوښه جوړه شوې ده. تاسو د دغه هر څه په لیدو حیران کیږی او وار له واره مو زړه ته لویږي چې د هوټل مدیر حتماً ستاسو په اړه خبر وو، او پوهیدی چې ور روان یاست، چې کوټه یې راته داسې جوړه کړې. دا هیڅ تصادف نه شي کیدای چې دا کوټه دې ستاسو په اړه له معلوماتو پرته داسې ښه جوړه شوې وي.

دنیا ته زموږ راتګ هم همداسې ده، دنیا او (فاعل) خبر وو، چې موږ راځو، ځکه یې هوا، اوبه، لمر، سپوږمی، او ډېر نور شیان یې موږ ته برابر کړل او موږ ته یې د ژوند لپاره هر څه تنظیم کړل.

۲- ژوند، د خپلواک او مستقل عمل کولو ظرفیت یعني خود مختاري.

ژوند څنګه پیل شو؟ ساینس یې په اړه دقیق ځواب نه لري، البته نظریه لري. انتوني فلو پوښتنه کړې ده: آیا ژوند/هستي له نیستۍ پیدا شوی. د ژوند سرچینه او اساس څه دی.؟ ساینس وایي: هر څه چې وایاست باید ثابت یې کړی، چې موږ یې ووینو، مګر دوی نه پوهیږي چې ډېر ژر به هم د الله سبحانه وتعالی پر موجودیت ایمان لري.

ساینس معمولاً پر هغو شیانو تحقیقات او پلټنې کوي چې موجود دي، مګر دوی هیڅکله هم دا پوښتنه ونه کړه او یا یې په اړه پلټنه ونه کړه چې دا شی/توکی څنګه هست شوی دی؟ د انسان خلقت او له انسان څخه د بل انسان د زیږیدو او تولید دا پروسه دا ثابتوي چې یو قانون او ناظم شته.

انتوني فلو د هستۍ په بحث کې د انسان پر ډي ان اې (DNA) تم شوی، دا مسئله یې څیړلې او بیا یې ویلي دي: ډي ان اې (DNA) د الله سبحانه وتعالی د موجودیت بل ثبوت دی.

ډاکټران ښایي د ډي ان اې (DNA) لپاره مفصل علمي تعریف ولري، مګر زه به یې په لنډو درته ووایم: ډي ان اې (DNA) د انسان د حجرې د ترکیب یو ډېر کوچنی واحد دی، چې د خلقت ټولې ځانګړنې او ارثي خواص لیږدوي. هر انسان جلا ډي ان اې (DNA) لري.

انتوني فلو وایي: د انسان ډي ان اې (DNA) داسې پیچلی او مغلق سیستم لري ته وا د اوسنی زمانې کوم پرمختللی کمپیوټر او کومه بله ساینسي وسیله وي. وایي: د یو قوي او غښتلي ذهن څخه پرته هیڅ امکان نه لري چې دا سیستم دې دومره منظم وي او کار وکړي، دا له باوره لیرې خبره ده.

په ډي ان اې (DNA) کې ډېر پیچلي مواد دي او دا مواد په بیلا بیلو لارو په یو منظم شکل فعالیت کوي.

فزیک پوه ورنر ګیت وایي: د ډي ان اې (DNA) په اړه یو کوچنی حقیقت دا دی چې د اطلاعاتي ژنیتیکي کوډونو موجودیت، د مادې، انرژۍ او طبیعت اړوند له هیڅ ډول اصولو سره سمون نه خوري.

دا په دې معنا ده چې ماده د هیڅ کوډ د خلقت صلاحیت نه لري او همدلته ده چې یو خالق ته ضرورت دی.

انتوني فلو د ډي ان اې (DNA) دا پیچلی سیستم د یو ځواک تخلیق او د الله سبحانه وتعالی د موجودیت بل علمي ثبوت ګڼي.

انتوني فلو د انسان د پوهیدو د درک، د فکري ځواک او په خپله انسان چې د ادراک، فکر او عمل (مرکز) دی، د الله سبحانه وتعالی د موجودیت نور قوي ثبوتونه ګڼي.

دی وایي: انسان په ژوند کې یو هدف تعقیبوي، عامل دی، نسل تولیدوي، موجودیت یې پر اخلاقیاتو تکیه دی، ژبه لري، افهام تفهیم لري، قانون لري، کنترول لري، معلومات لري، انرژي لري، ځواک لري او ماده لري. دا ټول هغه شیان دي چې یوازې انسان یې په ژوند کې لري. انسان چې هر څه کوي، پوهیږي چې څه کوي او څه نه کوي داسې بل هیڅ موجود نشته چې د درک او تمیز دغه ځواک دې ولري. کمپیوټر چې د ساینس او تکنالوژۍ تر ټولو پرمختللی ابتکار او وسیله ده او ډېر پیچلي کارونه کولای شي، مګر درک نه لري او انسان ته نه شي رسیدلی.

د فکر ټول محصول په درک او تمیز پورې تړلی دی، انسان درک او تمیز لري. هغه دلته یو بل فلسفي بحث هم کوي او وایي: فکر د وجدان او درک ور اخوا، د مفاهیمو د پوهیدو پدیده ده. د هرې ژبې د هر توري په کارولو موږ ته دا درک کیږي چې یو محسوس موجود له پخوا هست دی. زموږ په خبرو اترو، مفاهیمو، افهام تفهیم او فکر کولو کې یو معجزوي ځواک موجود دی. یوازې انسان دا معجزوي ځواک او صفت لري چې له نورو موجوداتو سره یې توپیر کیږي. دا ځواک آن د داسې شیانو په اړه هم فکر کولو ته انسان مجبوروي چې لمس کولای یې نه شي او نه یې لیدلی شي لکه: آزادي او د ملائیکو/انجلز کره وړه. دا ددې څرګندوی دی چې دا ټول له طبیعت د باندې د یو ځواک کار دی.

ده په کتاب کې ځای ځای ساینس پوهان پوښتلي دي: د طبیعت قانون څنګه جوړ شو؟ چا جوړ کړ؟ ژوند/هست څنګه له نیست څخه پیدا شو؟ دا نړۍ څنګه منځته راغله؟ د ډي ان آې (DNA) پیچلی او مغلق سیستم څنګه تصادف وګڼل شي؟

او دا طبیعت څنګه او ولې ښکلی ډیزاین لري او ولې داسې منظم فعالیت کوي؟

# ګاونډیه اندیواله خره دې لنډ تره!

امین وردګ

ګاونډیه اندیواله پام کوه! پښې دې له خپلې کمبلې مه باسه، وړاندې وروسته ګوره او یوازې هغه پیټې ته اوږه ورکوه چې پورته کولی او نقلولی یې شې؛ په ایجړاګانو، ډمو، کوکوګانو... او داسې نورو بلا بترو...کار نه کیږي، پر دوی مه نازیږه.

ستا برېتور زیاتره د فحاشیو لېنکونه سره تړي او هغهٔ طبقه دې چې لږ مخ ور اوړي! بیا برېتونه نه لري؛ نو هیله کوم لومړی دې خپل وزن معلوم کړه بیا پر ما د یرغل نقشې جوړوه.

زه چې ستا نرۍ توري پنډۍ او دا درانه درانه بارونه ګورم حیرانیږم درته او خندا راځي.

ګوره! لومړی خو زموږ قام او مقام وپېژنه، بیا دې ځان وپېژنه! پر موږ او زموږ پر ملایمت به تېروزې! خو موږ د هېچا تېری نشو زغملی، موږ هر متجاوز او اشغالګر ته لومړی پر مخ څپېړې ورکوو، بیا یې ګونډه کوو، ورپسې یې ماتوو او له خپلې خاورې یې په وچ زور باسو او هغه برخه یې چې زموږ په هېواد کې وژل کیږي ؛ اجازه نه ورکوو چې دلته یې څوک ښخ کړي، بلکې اجساد یې باید له ځانو سره یوسي او که کوم یو یې پاتې هم شي، نو حتماً به د شغالانو خوراک ګرځي! ځکه چې د متجاوز جسد ته موږ په درنه سترګه نه ګورو او نه غواړو چې د خپلې خاورې په ترکیب کې مو داسې وینې او هډوکي هم ګډ شي چې زموږ هېواد ته د تسخیر او استعمار لپاره راغلي وي او زموږ ځلاند تاریخ تر پوښتنې لاندې راولي.

موږ په سر کې احتیاط کوو، ډېر عاقلانه ګامونه اخلو او په بار بار دښمن ښیو، خو که یو وار ورسره ونښتو، بیا مو پیمان په مرګ وي! مانا دا چې؛ یا به یې سر وهو او یا به خپل سر خورو، دریمه لاره مو نه منلې او نه یې منلی شو، مګر په هغه صورت کې، چې دښمن مو څټ را واړوي او ماتې ومني.

ګاونډیه اندیواله! زموږ تاریخ ښه درته معلوم دی! خو نه پوهېږم چې ولې ړوند او کوڼ یې؟ چا لمسولی یې چې حرص او طمع دې پر احساساتو چنګ لګوي او د عقلانیت سر یې دې په سوک در وهلی دی.

ښه پوه یې چې موږ شرق او غرب دواړه په ګونډو کړي دي، نو ته څه شی یې!

اې! که ته دا فکر کوې چې ګنې هلته هم ستا خلاقیتونه وو او ستا نقشې وې - نو اشتباه کوې! موږ د استقلالیت لپاره له هرې ممکنه لارې ، هرې حربې، خدعې او چل څخه کار اخلو، خو چې کله مو سکه ورور هم (راسره شریکې!) دروازې ته لا سپک وګوري، نو د دښمن په سترګه ورته ګورو، وار خو ستا شو.

امریکا او روس دواړه چې دلته راغلل، نو همداسې فکر یې کړی ؤ لکه ته یې چې کوې! هغوی هم په خپلو ګوډاګیانو نازېدل او د هغوی په وعدو تېروتل، ځکه خو زموږ د غیور ملت تبر شو او د دوی څټونه؛ خو کله چې مات شول، نو ایله بیله پوه هم شول چې اصیل افغانان د هېچا غلامۍ ته غاړې نه کږوي؛ نو ته هم له عقل نه کار واخله، نه له باتو او احساساتو څخه.

ګوره! دلته که راغلې حتماً دې غابښونه ماتیږي! نوره دې خوښه.

سخت دې ځورولي یو ، سخت دې خفه کړي یو او تل دې پر موږ زده کړې دي.

لږ وړاندې وروسته وګوره! زه او ته ګاونډیان یو! ځکه خو ته پر ما حق لرې او زه پر تا، زه او ته هم قریب الدار یو او هم قریب النسب ؛ نو پام راسره کوه او پام به درسره کوم، کوښښ وکړه چې حوصله مې نوره و نه آزمویې.

زما او ستا تر منځ دنیا لانجې دي! کوښښ وکړه چې اړیکې مو حسنه وي او خپلې ستونزې د خبرو او منطق له لارې حلې کړو.

هیله کوم له مزرعې سره مې پام کوه او (خره دې لنډ تړه) که مو خدای مکړه یو ځل تر منځ اور بل شو، بیا به نو هېڅوک هم زما او ستا تر منځ بل شوی اور داسې پو نه کړي چې مړ شي! بلکې ورو ورو پوکی به ورکوي چې مداوم مو پکې وسوزوي.

بیا هم درته وایم چې خره دې لنډ تړه او کښت مې مه پرې را خوره.

ګوره! دا دې څووم ځل دی چې راباندې لګېږې، خو موږ څه نه درته وایو، دا چې ولې حوصله درته کوو؟ لاملونه او دلیلونه یې بېخي ډېر دي خو تر ټولو مهم یې لاندې درې لاملونه وګڼه: لومړی دا چې؛ موږ د جګړې تاوان لیدلی! ځکه خو یې شوقیان نه یو او زړه نه شو ورته ښه کولی! دویم دا چې موږ د ګاونډي حق پېژنو! او دریم لامل یې بیا دا دی؛ چې موږ شجاعت لرو او هېڅکله هم له کشرانو او... سره ځانونه نه برابروو ځکه چې له ملامتیا ډاریږو! سبا چې په ناسته او مرکه کې یو څوک راته ووایي چې ((ته خو ویښیار [هوښیار] وې او پوهېدلې؛ ولې دې داسې وکړل؟)) له همدې امله موږ تر ډېرو خبرو تېریږو؛ مګر که (خدای مکړه) یو ځل سره خښ شوو، نو بیا قسم اخلم چې خو ځان خپل اصلي برید ته و نه رسوو او ټول کړي دې در و نه ګرځوو ، که خو رانه خلاص شې؛ نوره دې خوښه.

# تنوع ددې نړۍ ښکلا ده

حنیفه زاهد

دا نړۍ لوی څښتن داسې جوړه کړې چې ډېر څه یې یو د بل برعکس پیدا کړي ، لکه تور سپین ،خواږه ، ترخه ، خندا ، ژړا او داسې نور.

چې په دې رنګینې کې ددې نړۍ ښکلا را څرګندېږي ، د انسانانو نژادونه ، ژبې ، غوښتنې او

فکرونه هم سره ډېر توپیر لري همدا فطرتي توپیر دی چې هر چا ځانته بېل بېل قانون ، کلتور او

تګلاره جوړه کړې او هر څوک په دغو امتیازاتو ډېر خوښ او د ځان لپاره ئې ویاړ بولي دا به ګرانه او بې خونده وي چې ټول د دنیا خلک په یوه ژبه ګړېږي په یو ډول جامې اغوندي او دخوړلو پخولو لاري چاري ئي سره یو شان ته وي ، تګلاره جوړول رسم رواج د خلکو د خپلو فکرونو زېږنده ده چې سم او ناسم ښاخونه لري .

موږ افغانان هم خپل رسم رواج لرو په هغه باندې ویاړو او د خپلې ځانګړتیا لپاره د یو بیرغ حیثیت ورکوو ، چې ډېره برخه یې د اسلامي اساساتو په چوکاټ کې دننه جوړه شوې ، ډېر کم داسې څه لري چې له مذهبي ټکو سره په ټکر کې دي چې یو زموږ له مذهبي او کلتوري بنیادونو څخه پرده کول دي چې دا زموږ د درونددوالي او عزت ساتلو لپاره یوه ښه وسیله او دخلکو ټینګ عادت ګرځېدلی ، خو زموږ څو ناخبره خوېندې له دغې اسلامي فرمودې او افغاني شعار څخه ځانونه پردې کوي ، نفرت ځینې لري او په پردي رنګ باندې ځان رنګوي او هغه د ویښتوب او پرمختګ یوه نوې لاره بولي

دا به د دغو خویندو ذهنې کمزوري او د دښمن د دسیسو یو څرک وي ، چې ورته وګورو زموږ پر هیوادوالو ډېرې سختۍ تېرې شوې زموږ خویندو له کلونو کلونو راهیسې کړاوونه ګاللي ، کونډې شوې ، بې کوره شوې ، زامن او ورونه ئې له لاسه ورکړي پر یوه ځای یې دکورنۍ ډېر غړي په بمبارونو کې شهیدان شوي ، دغه ښځې چې ځان دښځینه وو غمخوري بولي او دچادري دروندوالی ئي وربانډي پېرزو نه دی په همغه غملړلي وخت کې چیرته وې چې بږغ ئي پورته کړی وای ، دنیا ئي خبره کړې وای دا ګیله یې کړې وای چې موږ کومه ګناه کړې چې ډېر له لېري پردي پوځونه راغلي او موږ په خپل کور کې ټکوي ، تر دې چې د خپلي مور او انا ټکري او

چادري ته اور ورته کوي دا به ضروري وه چې د یرغلګرو بیرغ ته یې اور ورکړی او سوځولی ئي وای.

دا تر لمر سپینه خبره ده چې دښمن اوس هم موږ په ارامه نه پرېږدي ،استعمارګر هر وخت دیوې ټولنې له ټیټو او ناخبره خلکو څخه د ځان په ګټه کار اخلي دا ښځې چې له اسلامي احکامو ناخبره ، د پرمختګ لاري نه پېژني او د دښمن دسیسي نه ورمعلومېږي په اساني سره ئي څوک راپورته کولی شي او دخپلو فاسدو مفکورو تاثیرات په منلی شي اوپه ښو خلکو کې یې شیندي چې له دغې لاري څخه مو په هیواد کې بې نظمي او ناارامي راپیدا کوي ، اوبه خړوي او کبان په کې نیسي .

زه له ټولو ورونو او خویندو څخه داهیله لرم ، زارۍ ورته کوم او دمنلو په صورت کې دعاء ورته کوم نن چې مو هیواد تر یوه حاکمیت یوې قوماندې لاندې راغلی هیوادوالو لږ څه د ارامۍ

سا اخیستې ، ځاني تلپات مو نشته ، دغلو او سړي تښتونکو مخه نیوله شوې ده نو ددغه لوی نعمت شکره اداء کړئ ، د اختلاف او شورش بلاوي مه راوبښوئ ، خپل خلک مو دنیا ته د جګر مارو او هیواد مو د ناارامه هیواد په بڼه مه ښیاست چې دا به هرو مرو ددې خاوري په زیان تمامه او تاسو به هم په کې وزوریږئ .

ګرانو خویندو !

تاسو په دقت فکر ورته وکړئ چې مترقي نړۍ له کومې لاري ترقي ته رسېدلې ؟ د سکرټ ، پتلون او فېشن د ښکاره بنې له لاري او که د نویو څېړنو ، ساینسي تجربو او تخنیکي پرمختګ په مرسته ، موږ ته دا ضروري ده چې د پرمختګ اصلي عواملو ته لاس وروغزوو او په پرمختللیو خلکو پسې څو ګامه خو وردمخه شو .

ګرانو اودرنو خویندو !

موږ شکر ډېرې مودې مسلمان پاتې شوي په اسلام کې ټول حکیمانه احکام دي تاسو یې په غور وګورئ،ځان وپوهوئ ددښمن په دروغجنو تبلیغاتو مو ځان مه سرسامه کوئ خپلې غوښتنې د تیر په څېر په سپین سترګي او نامناسب ډول مه ښکاروئ ، اسلام تاسو ته پوره پاملرنه کړې پر تاسو ئي زده کړه لازمه کړې تاسو ته ئي د کاراجازه درکړې خو تاسو ښه متوجه شئ زیار وباسئ

په رښتني ډول پوره زده کړه وکړئ او هم کار هغه کار وکړئ چې اولس ته ئي ګټه ورسېږي داسې نه چې تاسو په دې بسنه وکړئ چې زموږ غوښتنې پوره شوې له کوره بهر راووتلو نور خپل مرام ته ورسېدو او بس ، چې دا ډول به دلوی رب ناشکري او له خپل ځان او خلکو سره لویه جفا او ظلم وي ، په پای کې یو وار بیا درته وایم چې خپل اسلامي او افغاني امتیازات وساتئ چې تاسو وربانډي ښه ښکارئ ، موږ له نړۍ سره پخلا یو راشه درشه ورسره وغواړو خو پکښې ورک او منحل کېږو نه او خپل ځان داسې ټیټ نه احساسوو چې خدای مه کړه زموږ هرڅه بې ارزښته دي او د نورو په تقلید خوشاله کېږو .

# مونږ ولې د اندلس تاریخ مطالعه کوو؟

نوم ورکی مجاهد / لومړۍ برخه!

د اندلس تاریخ ځکه مطالعه کوو، چې د اندلس تاریخ د اتو سوو کلونو څخه زیات یو اسلامی تاریخ دی.

د ۹۲ هـ څخه تر ۸۹۷ هـ پورې ، یعنې اته سوه پینځه کاله د اندلس تاریخ یو اسلامی تاریخ دي ، نو دا به عجیبه وي، چې مسلمانان په دغه اسلامی تاریخ چې د اته سوه کلونو څخه بې زیات دوام کړی؛ پوه نشي . او بله دا چې د اندلس تاریخ زیاتې تاریخي دورې لیدلي دي او ډیرې تاریخي دورې پکې ښکته او پورته شوي دي، نو دا الله تعالی ( جل جلاله ) قانون په اندلس کې ښکاره دی، ځکه چې په اندلس کې زیات خلک لوړو پوړیو ته رسیدلي او زیاتو خلکو پکې سقوط او شکست خوړلی د اندلس په تاریخ کې قسم قسم خلک تیر شوي دي چې په هغوي کې زړور مجاهدین ، بیریدونکي او ډارن خلک ، د خپل ځان او وطن سره امانتداره او د خپل ځان او وطن سره خیانت کوونکي خلک هم پکې تیر شوي دي ، نو پې له شکه چې ددغه تاریخ لوستل د مسلمانانو لپاره ډیر ګټور دي .

اوس وګوری چې څو نفرو د برباط د درې په اړه اوریدلي دي ، په داسې حال کې چې هغه د اسلام د جنګونو څخه یو ډېر مهم جنګ دی ، چې په هغه کې اندلس فتحه شو او دغه جنګ د یرموک او قادسیې له جنګونو سره مشابهت لري او یا د طارق ابن زیاد ( رحمه الله ) له خوا د کښتیو سوځولو حقیقت لري او که هسې یوه خیالي خبره ده ؟ زیات خلک ددې کیسې په حقیقت او تفصیلاتو باندې نه پوهیږي ، عبدالرحمن الداخل ( رحمه الله ) څوک دی ؟ او تاریخ پوهان څومره هغه پیژني؟ په داسې حال کې چې زیاتره مورخین وایی چې که عبدالرحمن الداخل ( رحمه الله ) نه وایي ، نو اسلام به په هم هغه زمانه په اندلس کې په کلي شکل ختم شوی وو او عبدالرحمن ناصر رحمه الله څوک دی ؟ هغه په منځنیو پیړیو کې د اروپا د لویو پاچاهانو له جملې څخه دی ، هغه څنګه دغې درجې ته ورسېد ؟ او څنګه په خپل وخت کې د نړۍ د لویو قدرتمندو څخه ګرځېدلی وو ؟ د ذلاقه جنګ سر لښکر یوسف ابن تاشفین ( رحمه الله ) څرنګه نشأت وکړ او په څه ډول بې خلک د جهاد د زنده ګی سره اشنا کړل او څرنګه بې د مسلمانانو د حاکمیت ساحه پراخه کړه ؟ د ابوبکر ابن عمر لمتونی ( رحمه الله ) نوم چا اوریدلی دی ؟ دا هغه مجاهد دی چې په کوښښ سره بې د (۱۵) څخه زیات افریقایي هیوادونه د اسلام په مبارک دین کې داخل شول .

د موحدینو د دولت په اړه او دا چې دغه دولت څرنګه سر اوچت کړ ، څوک پوهیږي ؟ د قرطبې د مسجد نوم چا اوریدلی دی ؟ هغه چې د نړۍ یو لوی مسجد و او په کلیسا بدل شو او تر ننه پورې په هماغه حالت باقی پاتې دی، د اشبیلې د مسجد په اړه چا اوریدلي دي ؟ د قرطبې د پوهنتون او د امویه کتابخانې نوم چا اوریدلی دی ؟ د الزهره د ماڼۍ او دالزهره د ښار نوم چا اوریدلی دي ؟ او د الحمراء د ماڼۍ نوم چې تر اوسه پورې په هسپانیه کې د سیاحت له نظره ډیر غوره ځای حسابیږي او مسلمانان او غیرې مسلمانان بې د لیدو لپاره ورځي ، چا اوریدلي دي ؟ د العقاب د جنګ په باره کې مو اوریدلي دي ؟ په هغه کې مسلمانان سره ددې چې د شمېر له لحاظه زیات وو خو د لوی شکست سره مخ شول .، بالکل داسې لکه د حنین جنګ چې د تیر څخه راګرځیدلي وي او د العقاب په جنګ کې بیا تکرار شوی وي ، تاریخ پوهانو لیکلي چې ددغه جنګ څخه وروسته په اندلس کې یو نیک مسلمان هم د جهاد لپاره نه تر سترګو کیده ، ځکه چې په دې جنګ کې د اتیا زرو څخه زیات مسلمانان شهیدان شول .

اندلس څرنګه سقوط وکړ او د سقوط عوامل بې څه وو؟ او که چیرته هغه عوامل بیا تکرار شي ، بیا هم د مسلمانانو د سقوط باعث ګرځي ، کله چې په اندلس کې د اسلام لمر غروب وکړ، نو د همدې سره په یو وخت کې د اسلام ځلانده لمر په قسطنطنیه او شرقي اروپا کې راوخوت .

د بلنیسې فاجعه څه ده ؟ او څنګه پکې اتیا زره مسلمانان په یوه ورځ په قتل ورسیدل ؟ د اوبدې فاجعه څه ده ؟ او د بربشتر فاجعه څه ده او په څه ډول پکې څلویښت زره مسلمانان په یوه ورځ کې قتل شول ؟ او همدارنګه د بربشتر په فاجعه کې په څه ډول اویا زره مسلمانې پیغلې بندیانې شوې ؟ دغه ټول حالات په اندلس کې تیر شوي دي چې اوس په همغه قسم حالات په بوسنیا ، هرزه ګونیا او نورو اسلامي هیوادونو کې ګورو، چې تکراریږي .

د اندلس اته سوه کلن تاریخ یوه حقیقي سرمایه ده ، چې د علم، تجربو او عبرتونو څخه ډکه ده ، دا چې د ټولو پیښو بیانول دلته ممکن ندي ، نو د زیاتو معلوماتو د حاصلولو لپاره ضروري ده ، چې نوره پلټنه وشي او د اسلامي اندلس اته سوه کلن تاریخ چې د اسلامي څوارلس سوه کلن تاریخ یوه برخه ده ، په صحیح ډول مطالعه شي ، تر څو په څه چې باید ترسره شي او په هغه څه چې باید ځان تري وساتل شي، پوه شو. د اندلس له فتحې تر سقوطه پورې یعنې له ۹۲ هـ یا د ۷۱۱ م څخه تر ۸۹۷ هـ یا ۱۴۹۲ م پورې د اندلس ټول اسلامي تاریخ له داسې پیښو څخه ډک دی ، چې د هغې په اړه د انسان ذهن ته ډېر سوالونه راځي، کوښښ کوو تر څو دغو سوالونو ته ځوابونه پیدا کړو.

# د خبرو مفلسان

**مولوی وقایت الله (وقار)**

د خیر د یوه عـادي کار توفیـق هـم د اللـه تعالی له لـوري وي او کـه د اللـه تعالـی خوښـه نـه شي نـو څـوک د خیـر یـو ګام هـم پورتـه کـولای نه شـي.

ډېـر خلـک خوشـبخته وي ځکـه نـورو ته ېـې خیر رسـېږي او رښـتیا هـم د هغـوی لپـاره دا د خوښـۍ لـوی زېـری دی چـې خـدای تعالـی ورتـه د خپـل مخلـوق د خدمـت ویاړ وربښـي او لـه همـدې کبلـه خـو رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم او اسـلامي شـریعت هماغـه کـس غـوره ګڼـي چـې تـر نـورو ېـې زیـات د خیـر مصـدر وي او خلـک تـرې د شـر پر ځـای د خیـر ډېـره هیله لـري.

زمونـږ پـه خـواره ټولنـه کـې ځینـې خلـک تـش پـه نـوم د بزرګـۍ یـو معیـار دا ګڼـي چـې لـه خبـرو بایـد روږه ونیـول شـي او آن د حـق خبـره هـم بایـد د چوپوالـي ښـکار شـي، دوی پـه حقیقـت کـې د ګونګـې شـیطانۍ پـه لـور روان دي؛ خـو خپـل دا کار یـو ډول نېکـي ګڼـي.

خواشـیني داده چـې دلتـه د خبـرو روږه عبـادت ګڼـل کېـږي، پـه داسـې حـال کـې چـې د خبـرو لـه روږې څخـه اسـلامي شـریعت پـه صریحـه توګـه منـع کـړې ده او دا کار ېـې د اسـلامي ټولنـې د پاشـلتیا پـر اسـاس حـرام کـړی دی.

پـه کار داده چـې د خیـر د کار او وینـا پـه وړانـدې بهانـې ونـه لټـول شـي او هڅـه وشـي چـې پـه څومـره انـدازه هـم د نـورو د نېکمرغـۍ لامـل کېـدای شـو، بایـد دغـه فرصـت لـه لاسـه ورنـه کـړو او همـدا مونـږ تـه د دیـن پیغـام دی او کـه پـه دقیقـه توګـه دیـن تـه وګـورو، دیـن بـه پـه هماغـې نېکمرغـۍ سـره تعریـف کـړو چـې لومـړی د ځـان نېکمرغـه کـول او بیـا د نـورو د نېکمرغـۍ لپـاره لـه هـر ډول وړتیا اسـتفاده بلـل کېـږي.

دلتـه زمونـږ لـه منځـه ځینـو تـه د خیـر او نېکمرغـۍ ډېـر مجالونـه پـه ګوتـو ورځـي خـو پـه دومـره بـې پروایـۍ تعامـل کـوي او پـه لاأبالـي شـکل بې هسـې تېـروي، تـه وا دوی هیڅ متوجـه نـه دي او یـا ددغـه شـېبو پـه اړه هیـڅ مسـؤلیت ور تـر غـاړې نـه دی.

کـه لـه دغـه ډول خلکـو پوښـتنه وشـي چـې ولـې د خیـر د وینـا پـه ځـای کـې چـوپ پاتـې کېـږي او آن د حکمتونـو پـه رڼـا کـې بیـا هـم د خیـر خبـره نـه کـوئ؛ نـو د خپلـې دغـې ګنـاه لپـاره بـه دلایـل وایـي او هڅـه کـوي چـې نـه یـوازې دا چـې ځـان ملامتـه نـه کـړي، بلکـې خپـل دغـه کار ته شـرعي رنـګ ورکـړي او ځـان د نـورو لـه پوښـتنې خـلاص کـړي.

پـه کار خـو داده چـې زمونـږ غونـدې لـه سـتونزو ډکـه ټولنـه کـې چـې د خیـر د یـوه عـادي کار ګام هم څـوک اخلـي، باید ښـه تشـویق شـي او د خیـر پـه دغـه عـادي کار کـې هـم چـې زمونـږ څومـره مرسـته ممکنـه وي، ورسـره وشـي، دا ځکـه چـې نـور جهـان کـه مونـږ تـه پـه مـادي لحـاظ پرمختللـی ښـکاري؛ نـو هلتـه ددغـه پرمختـګ اسـاس د ډېـرو عـادي کسـانو نـه شـروع شـوی دی او بیـا ېـې تـر نظـام او چارواکـو پـورې رسـېدلی دی، د اسـتاذ محمـد غزالـي رحمـه اللـه ښـه وینـا ده چـې فسـاد لـه لـوړ پـوړو چارواکـو پیـل کېـږي او پـه ولـس پـای تـه رسـي؛ خـو اصـلاح بیـا لـه ولـس او عـادي وګـړو شـروع کېـږي او تـر لـوړ پـوړو چارواکـو ځـان رسـوي.

زمونـږ د ټولنـې پـه منـځ کـې ډېـر خلـک داسـې شـته چـې د خیـر خبـره ېـې منـل کېـږي او دوی پـه داسـې مقامونـو کـې دي چـې کـه فقـط خبـره هـم وکـړي، کېـدای شـي یـو لـوی د خیـر انقـلاب رامنځتـه کـړي؛ نـو ددغـه ډول وګـړو شـرعي، عقلـي او عرفـي دنـده داده چـې بایـد پـه خپـل ځـای کـې د خیـر خبـره وکـړي، برابـره خبـره ده چـې دغـه د خیـر خبـره د چـا د تشـویق پـه اړه وي، کـه څـوک پکـې توجیـه کېـږي او کـه مسـقیما پـه چـا بانـدې سـالم نقـد وي، دا هـر څـه پـه خپـل ځـای ځانګـړی ارزښـت لـري او تـر څـو پـورې چـې پـه یـوه ټولنـه کـې دا روحیـه رامنځتـه نـه شـي چـې د خبـرو افـلاس لکـه د بـې ځایـه خبـرو پـه څېـر مذمـوم دی؛ نـو ټولنه د پرمختـګ پړاوونـه نـه شـي وهلـی.

هماغـوی چـې د ټولنـې پـه بربـادۍ پسـې ېـې راخیسـتې ده او پـه مـادي او معنوي لحـاظ ددې مظلـوم ملت حقـوق خوري، پـه جـدول کـې هغـه هـم شـامل دي چـې ملـت پـرې بـې شـمېره مصـارف کـړي دي، دی اوس کـدر دی، ولـې د خپـل کـدر قـدر نـه کـوي او پـه زوره د ټولنـې ددې دومـره ناخوالـو پـه وړانـدې ځـان ګونـګ نیسـي.

دغـه ډول وګـړي چـې پـه ټولنـه کـې څومره ډېر شـي، هومـره د ټولنـې د وروسـته پاتـې والـي لامل ګرځـي، ځکـه دوی یوازې پـه خپلـه بزرګـۍ بسـنه کـوي او اسـلامي شـریعت د فـرد پـه نېکـۍ سـربېره د ټولـې ټولنـې پـه وړانـدې او آن ددې ټولـو کایناتـو پـه اړه د مسـلمان پـه مسـؤلیتونو غربېدلـی، کلـه چـې د فـرد مسـؤلیت پـه خپلـه دایـره کـې نـه راخلاصـه کېـږي؛ نـو بیـا نـو د کایناتـو پـه اړه د خبـرو مفلسـي هسـې تـش پـه نـوم بزرګـي او شـیخي ده.

خدای تعالی دې ترې مونږ وساتي.

# د حضرت عمر رضی الله ۱۲ صفتونه

**مولوي نورالحق مظهري**

ژباړه: معاویه رضي الله عنه صعصعه ته وویل: د عمر رضي الله عنه صفت راته وکړه! هغه ورته وویل: عمر رضي الله عنه د خپل رعیت په حال خبر وو، په خپل ځان کي عادل وو، لویي یې نه کوله، عذرونه یې قبلول، آسانه یې ځان پټوی، دروازه یې خلاصه وه، د حق پلټنه یې کول، د بدۍ څخه لیري وو، پر ضعیف مهربانه وو، بې ځایه خبري یې نه کولې، ډېر وخت به چوپ ناست وو او د عیب څخه لیري وو.

**د صفاتو تشریح:**

۱ - عمر رضي الله عنه د خپل خلافت په وخت کي د خپل رعیت او ملت په حال ځان خبروی تر څو د اړتیا په صورت کي مرسته ورسره وکړي او ستونزي یې حل کړي.

۲ - حضرت عمر رضي الله عنه د خپل ځان سره عدالت کوی؛ یعني افراط او تفریط به یې نه کوی؛ یا یې معنی دا ده چي عدالت دده په خټه کي نغښتی ځکه یې هر چیري د هر چا سره عدالت چلوی.

۳ - حضرت عمر رضي الله عنه لویي او تکبر نه کاوه ځکه نو تل یې د ضعیفو او ناتوانو مسلمانانو خیال ساته او د دوی هر مشکل ته یې رسېدګي کوله.

٤ - حضرت عمر رضي الله عنه د معذورو انسانانو عذر قبلوه؛ پدې معنی سره چي کله به یو څوک ورته راغی او د یو شي په اړه به یې عذر ورته وړاندي کړ نو حضرت عمر رضي الله عنه به یې عذر قبلوه.

٥ - حضرت عمر رضي الله عنه په لباس او کالو کي تر حد تجاوز نه کوی او تنها د خپل بدن په پټولو سره به یې بسنه کول؛ داسي یې نه کوله چي ډېر ګران قیمته او لوړ ارزښته کالي واغوندي.

٦ - د حضرت عمر رضي الله عنه دروازه تل د خپل ولس او خلګو په مخ خلاصه وه هر څوک یې بېله کومي پابندۍ لیدني او ملاقت راتلای سو.

٧ - حضرت عمر رضي الله عنه د حق پلټنه کول او په هري موضوع کي یې حق پیدا کوی؛ په پټو سترګو او ناخبرۍ کي یې نه فیصله کول، نه یې هم کوم فرمان صادر وه، او نه یې هم کوم مسلمان متهم کاوه.

٨ - حضرت عمر رضي الله عنه د بدۍ څخه ځان لیري ساته تر څو د ځان ساتني تر څنګ په خپل ولس کي رعب او هیبت له لاسه ورنکړي او لوی الله جل جلاله ورڅخه خوابدی نسي چي بیا به یې ټول معنویات له مینځه ولاړ سي.

۹ - حضرت عمر رضي الله عنه پر ضعیفو انسانانو باندي ډېر مهربانه وو ځکه نو تل د ضعیفو او بې کسه کسانو څنګ ته درېدی او هغه یې د هر زورور او زورواکي څخه ساتی.

۱۰ - حضرت عمر رضي الله عنه بې ځایه او بې فایدې خبري نه کولې او هیڅ وخت یې ځان په اټکلي خبرو نه مصروف کوي.

۱۱ - حضرت عمر رضي الله عنه به ډېر وخت چوپ ناست وو تر څو د خپل ولس په ښېرازۍ او خدمت کي فکر وکړي او د هغوی لپاره مهم خدمتونه عرضه کړي.

۱۲ - حضرت عمر رضي الله عنه په ځان د عیب پیدا کولو او د بل مسلمان د عیب بیانولو څخه په کلکه ډډ کوله او هیڅ وخت یې په نورو مسلمانانو کي عیبونه نه پیدا کول.

ګرانو او معززو مشرانو! د حضرت عمر رضي الله عنه غوندي ځانونه جوړ کړئ چي د هغه غوندي حکومت کول مو په برخه سي.

# د اسلامي ټولنې د جوړښت لپاره د قرآن کریم (۱۰۰) اغېزناک پیغامونه

**محمد علي عظمت / وروستۍ برخه**

۸۰ ــ او د چا په عیب لټولو پسې مه کېږئ. (حجرات/۱۲)

۸۱ ـــ اې مؤمنانو! له خپلو کورونو پرته نـورو کورونو ته مه ننوزئ، تـر څومو چې اجازه نـه وي اخیسـتې او د کور په هستوګنو مو سلام نه وي اچولئ. (نور/۲۷)

۸۲ ــ بیا (کله چې عذاب راشي) نو مونږ خپل رسولان او هغه کسـان چې ایمان یې راوړی، هغوی ژغورو. همداشان مونږ دا خبره په ذمه اخیسـتې چې ټولو (نـورو) مؤمنانو ته نجات ورکړو. (یونس/۱۰۳)

۸۳ ـــ او د الرحمن بنده ګان هغه دي چې په زمکه باندې په عاجزۍ سره ځي. او کله چې ناپوه خلک هغوی ته (جاهلانه) خطاب وکړي، نو دوی د سلامتۍ خبره کوي. (فرقان/۶۳)

۸۴ ــ او (دوی ته) ووایه: «تاسـو خپل عمل کوئ. الله جل جلاله به اوس ستاسـو د عمل طریقه ویني، د هغه رسـول صلی الله علیه وسلم هم او مؤمنان هم، بیا به تاسو هغه ذات ته ور وګرځول شئ، چې په پټو او ښکارو پوهېږي، بیا به تاسو ته هغه څه دروښیي، چې تاسو یې کوئ. (توبه/۱۰۳)

۸۵ ــ ووایه: «زه هم ستاسو په څېر یو انسان یم، (البته) په ما باندې دا وحې نازلېږي، چې ستاسـو ټولو بس یو خدای دی نو څـوک چې له خپل رب جل جلاله سـره د مخامخ کېدو هیلــه لري، پکار ده هغه نېک عمل وکړي. او د خپل مالک په عبادت کې بل څوک ورسره شریک نه کړي.» (کهف/۱۱۰)

۸۶ ــ آیا دا کومه د باور وړ خبره ده چې تاسو د جنسي غوښتنې پوره کولو لپاره ښـځې پرېږدئ او سړیو ته ورځئ؟ حقیقت دا دی چې د سترې ناپوهۍ د کار کوونکي یاست. (نمل/۵۵)

۸۷ ـــ اې مؤمنانو! له الله جل جلالــه څخه ووېرېږئ او له رښتینو سره شئ. (توبه/۱۱۹)

۸۸ ــ او په زمکه کې په کبر سـره مه ځه. نه ته زمکه څیرلی شـې او نه ته پـه اوچتوالي غرونو ته رسـېدلی شـې. (بني اسرائیل/۳۷)

۸۹ ــ او (ښځې) دې د خپل سینګار څرګندونه چا ته نه کوي، پرته له هغه چې خپله هغه ښـکاره شي. او خپل پړوني دې په خپلو ګرېوانونو راواچوي. (نور/۳۱)

۹۰ ــ بېشـکه الله جل جلاله دا خبره نه معاف کوي چې له هغه سره څوک شـریک ونیول شي. او له دې وړه خبره چې د چا لپاره یې خوښــه شي، ښښي یې. چا چې له الله جل جلاله سره څوک شریک کړ، نو لوی تور یې وتاړه. (نساء/۴۸)

۹۱ ـــ ووایه: «اې زما هغه بنده ګانــو! چې پر ځانو یې ظلم کړی، د الله جل جلاله له رحمته مه ناهیلي کېږئ. باور وکړئ الله جل جلاله ټولې ګناوې ښښـې، یقیناً هماغه ډېر ښښونکی، خورا مهربان دی. ()

۹۲ ــ او نیکي او بدي نه سـره برابرېږي. تــه د بدي دفاع په داسـې طریقه کوه چې ډېره غوره وي. نتیجه به دا شي چې د کوم شـخص او ستا ترمنځ دښمني وه، هغه به ورو ورو داسې شي، لکه هغه (ستا) خوږ، مهربان دی. (حم سجده/۳۴)

۹۳ ـــ او هغو چې د خپل رب خبره منلــې ده او لمونځ یې اداء کړی دی. او هر کار یې په خپلمنځي مشـورې سره ټاکل کېږي. او مونـږ چې هغوی ته کومــه روزي ورکړې، له هغه څخه (د نیکي په کارونو کې) لګښت کوي. (شوری/۳۸)

۹۴ ــ په حقیقت کې د الله جل جلاله په نزد په تاسـو کې تر ټولو عزتمن هغه دی، چې په تاسـو کـې له ټولو زیات متقي وي. باور وکـړئ، الله جل جلاله په هر څــه پوه، له هر څه باخبره دی. (حجرات/۱۳)

۹۵ ــ او تر کومه ځایه چې رهبانیت (دنیا پرېښودل) دی، هغه دوی لــه خپله ځانه جوړ کړی و، هغه مونږ د دوی په ذمه نه و واجب کړی. (حدید/۲۷)

۹۶ ــ له تاسو څخه چې کومو کسانو ایمان راوړی دی او هغو ته چې علم ورکړل شـوی، الله جل جلالــه به د هغو درجې اوچتې کړي. او چې تاسـو څه کوئ، الله جل جلاله په هغه ښه خبر دی. (مجادله/۱۱)

۹۷ ــ الله جل جلاله تاسـو له دې خبرې نه ایساروي، چې کومو خلکو د دین په معامله کې یې له تاسـو سره جګړه نه ده کړې او تاسـو یې ستاسو له کورونو څخه نه یی وېستلي، چې تاسو له هغه سـره نېکي وکړئ او د انصاف چلن وکړئ. یقیناً الله جل جلاله انصاف کوونکي خوښوي. (ممتحنه/۸)

۹۸ ــ او په کومو څیزونو کې چې الله جل جلاله تاسو ته یو پر بل لوړوالی درکړی، د هغه هیله (ارزو) مه کوئ. (نساء/۳۲)

۹۹ ــ بیا کله چې تاسو د خپل حج احکام بشپړ کړ، نو د الله جل جلاله ذکر وکړئ، څنګه چې تاسو د خپلو پلرو نیکو ذکر کوئ. (بقره/۱۹۹)

۱۰۰ ــ او چې سوالګر وي، هغه مه رټه. (ضحی/۱۰)

# گزیدهٔ از اثر «صد میدان» خواجه عبدالله انصاری (رح)

از میدان فقر میدان تواضع زاید. قوله تعالی: «ترجمه: و بندگان نیک خداوند کسانی استند که بر زمین تواضع کنان می‌روند». تواضع فرو استادنست حق را، و آن سه چیزست: حق را جل جلاله، و دین ویرا، و اولیاء ویرا. تواضع دین ویرا سه چیزست: رأی خود را برابر گفت وی باز نداری، و بر سر رسول وی اسناد نجویی، و بر دشمن خویش حق رد نکنی. و تواضع اولیا را سه چیزست: قدر ایشانرا زبر قدر خویش داری، و از خویش ایشانرا اکرام نمائی، و از ظن بد خویش ایشان را آزاد داری. تواضع حق را جل جلاله سه چیزست: فرمان ویرا خوار باشی، و زیر حکم وی پژمرده باشی، و در یاد کردن وی حاضر باشی.

***

از میدان یقین میدان بصیرت زاید. قوله تعالی: «ترجمه: وقتی به یاد شان آمد بیدار می‌شوند» بصیرت دیده ور شدن است. بصیرت بسه چیز است: بصیرت قبول، و بصیرت اتباع، و بصیرت حقیقت. بصیرت قبول رسید تست بیافت آشنایی: «ترجمه: اینک از طرف پروردگارتان پندها برای شما آمد». و بصیرت اتباع راه سنت بصلابت سپردنست: «ترجمه: من و همراهانم با بصیرت می‌باشیم» و بصیرت حقیقت مولای خود را بدیدهٔ دل دیدنست: «ترجمه: بینایی و پند است برای هر بندهٔ عاجزی کننده». بصیرت قبول در نظارهٔ تجارب و علامات و دلایل است. و بصیرت اتباع در کتاب و سنت و آثار سلفست. و بصیرت حقیقت چراغست در دل که «اینکم»، و ندا در گوش که «ایدرم»، و نشان روشن که «با توأم».

# در باب پرورش فرزند

**حضرت سعدی (رح)**

پسر چون ز ده بر گذشتش سنین
ز نامحرمان گو فراتر نشین
بر پنبه آتش نشاید فروخت
که تا چشم بر هم زنی خانه سوخت
چو خواهی که نامت بماند به جای
پسر را خردمندی آموز و رای
که گر عقل و طبعش نباشد بسی
بمیری و از تو نماند کسی
بسا روزگارا که سختی برد
پسر چون پدر نازکش پرورد
خردمند و پرهیزگارش بر آر
گرش دوست داری به نازش مدار
به خردی درش زجر و تعلیم کن
به نیک و بدش وعده و بیم کن
نوآموز را ذکر و تحسین و زه
ز توبیخ و تهدید استاد به
بیاموز پرورده را دسترنج
وگر دست داری چو قارون به گنج
مکن تکیه بر دستگاهی که هست
که باشد که نعمت نماند به دست
به پایان رسد کیسهٔ سیم و زر
نگردد تهی کیسهٔ پیشه‌ور
چه دانی که گردیدن روزگار
به غربت بگرداندش در دیار
چو بر پیشه‌ای باشدش دسترس
کجا دست حاجت برد پیش کس؟
ندانی که سعدی مراد از چه یافت؟
نه هامون نوشت و نه دریا شکافت
به خردی بخورد از بزرگان قفا
خدا دادش اندر بزرگی صفا

# عوامل ناکامی و فروپاشی نظام‌ها طی چهارده‌ه اخیر در افغانستان

ابوالیاس جهادوال / بخش نخست

پس از کودتاه خونین هفتم ثور سال ۱۳۵۷ هـ ش که منجر به کشته شدن سردار محمدداوود اولین بانی نظام جمهوریت در افغانستان و به قدرت رسیدن نورمحمد تره‌کی شد، این کشور چندین نظام با مفکوره‌ها و ایدیولوژی های متفاوت را تجربه کرد که هر کدام بنابر عوامل مختلف از جمله مداخله خارجی‌ها، اختلافات درونی و یاهم تقابل با منافع ملی یکی پی دیگر سقوط کرده است. در این مقاله تلاش شده است به عوامل فروپاشی و عدم ناپایداری این نظام‌ها به‌گونه جداگانه پرداخته شود:

**۱) عوامل ناکامی نظام تره‌کی:**

نورمحمد تره‌کی که یکی از چهره‌های مورد اعتماد اتحاد شوروی و حامی تحقق مفکوره کمونیزم در افغانستان بود، در نتیجه کودتاه خونین هفتم ثور علیه نظام محمدداوود که منجر به کشته شدن وی و۵۸ تن اعضای فامیل اش شد، به قدرت رسید.

با روی کار آمدن حکومت خلق دیموکراتیک افغانستان تحت رهبری نورمحمد تره‌کی رابطه نظام حاکم افغانستان با اتحاد شوروی که در اواخر نظام جمهوریت داوود خان بنابر اختلافات میان وی و برژنف رهبر شوروی سابق به تیره‌گی گرایده بود، با امضای معاهده دوستی ١٤ قوس ١٣٥٧ هـ ش ه دوباره احیاء شد.

نورمحمد تره‌کی پس از کسب قدرت، فرمان‌های زیادی را به‌منظور تحقق اهداف حکومت‌اش صادر کرد که از جمله فرامین شماره ۷ و ۸ آن که بالترتیب در ماه های عقرب و قوس سال ۱۳۵۷ صادر شد، جنجال برانگیزترین فرمان‌ها بود.

تره‌کی و تیم حاکم تصور داشتند که جامعه افغانستان فیودالی است که باید برای محو آن ملکیت‌های فیودال‌ها مصادره و به دهقانان بي زمین توزیع شود که این اقدام آنها باعث ایجاد تشنج میان اقشار مختلف به‌خصوص زمینداران و مردمان فقیر جامعه شد.

وادارسازی متعلمین و محصلین به تظاهرات بیهوده، شعاربازانه و بی محتوا به تنزل هر چه بیشتر نظام معارف و تحصیلات عالی کشور انجامید و این دو نهاد علمی و اکادمیک به جای آموزش علم به میادین سیاست، زورآزمایی میان احزاب سیاسی و تحقق اهداف آن‌ها مبدل شدند. افزون بر آن به هزاران تن از جوانان مسلمان اعم از استادان پوهنتون و مکاتب به‌نام اخوانی و روحانی اعدام و یا زندانی شدند که این کار حس انتقام‌جوی در میان اقشار مختلف به‌خصوص قشر تحصیل‌یافته و روحانی را علیه حکومت تقویت نمود و زمینه را برای قیام مسلحانه در مناطق مختلف کشور فراهم کرد.

تنش‌های داخلی پرچمی ها و خلقی ها از عوامل دیگر سرنگونی حکومت تره‌کی بود؛ این وضعیت به حدی رسید که هر دم احتمال از میان رفتن حکومت وی می رفت.

در همین‌حال سازمان اطلاعاتی اتحاد شوری سابق ( کی جی بی) به اسنادی دست یافته بود که همکاری امین ( صدراعظم حکومت تره‌کی ) با سازمان اطلاعات آمریکا را تایید می‌کرد و به همین دلیل برژنف در دیداری که در سال ۱۳۵۸ با تره‌کی داشت در این مورد به وی هشدار داد. روز بعد تره کی در دیدار با اعضای حزب دموکراتیک خلق در مسکو در سخنان اش گفت: «در حزب ما یک دانه سرطان است که باید کشیده شود، علاج شود. وقتی که سرطان در وجود باشد، وجود درد دارد. من این دانه سرطان را تشخیص کرده ام و حزب را علاج می‌کنم»

به همین‌منظور مقام های شوروی در غیاب حفیظ الله امین سعی نمودند توافقی را میان نور محمد تره کی و ببرک کارمل در ماسکو به وجود آورده و طرحی را برای کشتن امین تهیه کنند. اما حفیظ الله امین که در دستگاه حزبی نفوذ بیشتر داشت، از این طرح آگاهی یافت و در یک اقدام پیشگیرانه در ۲۵ سنبله ۱۳۵۸ هـ ش نخست تره‌کی را خلع قدرت نموده و سپس به قتل رسانید.

**۲) عوامل سرنگونی نظام حفیظ الله امین:**

حفیظ الله امین در ۲۵ سنبله ۱۳۵۸ پس از کشته‌شدن نور محمد تره‌کی به قدرت رسید. وی در حاکمیت صد روزه خود با انتشار لیست ۱۲ هزار نفری از شهدای که در زمان حاکمیت تره‌کی در محاکمات صحرایی به قتل رسیده بودند، تلاش کرد تمامی سرکوب‌ها و ستم‌های گذشته را بر دوش تره‌کی اندازد.

پس از به قدرت رسیدن امین، خشونت و دهشت در کشور به اوج خود رسید. وی با شعارهای ناسیونالیستی، پرگویی‌های بیهوده و سخنرانی‌های پوچ و میان تهی، کار را به برپایی یک رژیم خود کامه و دیکتاتور کشاند. هنگامی که امین بر پرده تلویزیون ظاهر می‌شد، برای یک لحظه قیافه و اطوار او بر بیننده تأثیر مثبت وارد می‌کرد، اما همین که لب به سخن می‌گشود معلوم می‌شد که گفتارش تقلیدی، حرکاتش ساخته‌گی و روی هم رفته مردی خام و سطحی بوده و در اکثر موارد از درک معنی آن عاجز است. بیانات او را دیگران به اقتباس از آثار مارکسیستی تهیه می‌کردند و او با افزودن مقداری مبالغه و اغراق آن را به خورد شنونده‌گان می‌داد.

بسیاری‌ها بر این باورند که حفیظ الله امین زمانی‌که در ایالات متحده امریکا محصل بود، عضویت سازمان اطلاعاتی امریکا یا سی آی ای را کسب کرد اما در بازگشت خود به افغانستان تلاش داشت خود را مارکسیست نشان داده تا در حزب دیموکراتیک خلق افغانستان نفوذ کند.

امین در زمان حاکمیت‌اش با سفیر آمریکا نیز دیدار کرد و علناً تمایل به چرخش حکومت انقلابی خود به بلوک غرب را نشان داد. آچر بلود سفیر ایالات متحده در گزارشی به تاریخ ۲۸ اکتوبر به واشنگتن از جزئیات ملاقاتش با حفیظ الله امین گزارش داد. بلود نوشت «در صبح روز ۲۷ اکتوبر ٤٠ دقیقه با حفیظ الله امین ملاقات داشته است.» امین در این ملاقات در مورد بهبود روابط با آمریکا صحبت کرد اما موضوع درخواست کمک از امریکا مطرح نه‌شد.

در همچو اوضاع اتحاد جماهیر شوروی مطمئن شده بود که امین از سوی سی.آی.ای ترغیب و حمایت می‌شود و تلاش دارد که تحول به‌وجود آمده به حمایت آنها در افغانستان را به نفع بلوک غرب تمام نموده و این کشور را تبدیل به یکی از پایگاه‌های آمریکا کند. این امر باعث شد که کی جی بی درخواست کمک کمونیست‌های افغانستان برای حذف امین را بپذیرد و برای از بین بردن وی دست به اقدامات عملی بزند.

قرار گزارش‌ها در ششم جدی سال ۱۳۵۸ امین میهمانی را در قصر خود ( قصر تاج‌بیک) ترتیب داده بود اما بی‌خبر از اینکه آشپز قصر یکی از ماموران کی جی بی بود و ماموریت داشت تا امین را مسموم کند. امین با غذای مسموم ابتداء گیج شد و سپس توسط نیروهای مؤظف اتحاد شوری به قتل رسید و خانواده‌اش را به زندان مرکزی بردند. بناءً گفته می‌توانیم که نبود تیم متعهد و هم‌فکر، بی خبری از وضعیت و نظام کشور، مداخله کشورهای خارجی و تقابل منافع شرق و غرب در امور افغانستان از عوامل عمده سقوط نظام امین و کشته شدن وی توسط عساکر اتحاد شوروی سابق بوده است.

**ادامه ....**

# افغان اعلانات

## اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم شیر آقا درانی فرزند ولی محمد ولدیت مسلی خان دارنده تذکره نمبر ( ۱۳۹۸-۰۹۰۰-٦۵۷۲۴ ) مسکونه اصلی ولایت کنر مالک دواخانه سید فیصل واقع ناحیه شانزدهم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم محمد کوهات درانی فرزند محمد قیس درانی ولدیت ولی محمد دارنده تذکره شماره ( ۰۴۰۵-۰۸۰۲۲-۱۴۰۰ ) مسکونه اصلی ولایت کنر گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند.۳٦۷۲

***

## اطلاعیه مفقودی

یک قطعه کارت هویت وکالت دفاع شماره ۵۳۲۷ مورخ ۱۳/ ۱۲/ ۱۳۹۸ مربوط محترم عبدالنصیر فرزند عبدالجبار که شماره متذکره نیز درج آن می باشد مفقود گردیده است بناء از اعتبار ساقط می باشد.۳٦۸۵

***

## اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم سردار الدین فرزند معراب الدین یک عراده موتر پلیت ۸٦٦٦۵ ل کابل نوع بنز اکتروز جرمنی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عزیز الرحمن فرزند فضل الرحمن بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳٦۷٦

***

## اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم حامد الحق بکتاش فرزند محمد زمان یک عراده موتر پلیت ۸٦۷۹۵ ل کابل نوع تویتا بنزاکتروز جرمنی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عزیز الرحمن فرزند فضل الرحمن بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳٦۷۷

***

## اطلاعیه تغیر مالکیت شرکت

تشبث (شرکت کازمن) دارنده جواز نمبر ۲۱۴۴ طی مکتوب (۱۳۱۹) مورخ ۱۴۴۴/٦/۱۱ عنوانی این ریاست خواهان ۵۰٪ سهم محترم (اشرف فرزند بسم الله) سهم ریس شرکت را بالای محترم (امجد سلیم فرزند بسم الله) مبلغ ۵۰٪ سهم بفروش قطعی رسانیده اند به صفت ریس جدید تعین گردیده.

بناء اشخاص ، موسسات و دوایر دولتی که بالای شرکت مذکور ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ده یوم به ریاست عمومی اداره ملی غذا و ادویه افغانستان واقع چهار راهی حاجی یعقوب اطلاع دهند.۳٦۷۸

***

## اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی تذکره تابعیت به اسم امین الله فرزند روح الله مفقود گردیده اعتبار ندارد.۳٦۷۵

***

## اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز کار اتباع خارجی به اسم طاهر علی کارمند دفتر ارتباط (TLO) مفقود گردیده اعتبار ندارد.۳٦۷۴

***

## اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم تامین فرزند عزت الله یک عراده موتر پلیت ۲۸۷۷۵-۴ ش کابل نوع تیوتا لند کروزر زرهی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد نعیم فرزند داود شاه بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳٦۸۴

***

بدینوسیله به تاسی ازفقره(۲)ماده چهل سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود وزارت دفاع ملی درنظردارد.

اعطاءقرارداد ۱۲٦ قلم پرزه جات وسایط ثقیله انجنیری ضرورت قول اردو های ساحوی و قطعات مرکزی بابت سال مالی ۱۴۰۱ ذریعه امریه(۵۷۹٤)مورخ ۱٤٤٤/۰٦/۱٤ مقام محترم وزارت دفاع ملی با شرکت ساختمانی سرکسازی و خدمات لوژستیکی رحمن راه دارنده جواز نمبر(D-26296) به قیمت مجموعی مبلغ (۳٤,۸۵۷,۵۰۰) افغانی تائید گردیده است

در صورتیکه اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی مدت هفت روز تقویمی طور کتبی توام بادلایل آن به ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی واقع خواجه بغرا بر وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقدقرارداد نبوده والی تکمیل معیاد فوق الذکروطی مراحل قانونی بعدی قرارداد منعقد نخواهد شد

***

## د خوست ښاروالی ریاست خبرتیا:

ښاروالی ریاست د خوست ښاروالی اړوند ساحوی کی اشتهاري بیلبورډونو د دریو کالونو اجاري قرار داد، مزایدي داوطلبی ته، حقیقی او حکمی اشخاصو ته بلنه ورکوي چې خپل غوښتنلیکونه دی د اعلان وروسته تر ۲۱ ورځو پوری خدماتو تدارکاتو مدیریت ته وسپاری، شرطپاڼه تر لاسه کولی شی، تضمین نغد اخیستل کیږی، دلا زیاتو معلوماتو لپاره کولی شی چی په ۰۷۷۸۸٤٤۳۸۸ شمیره اړیکه ونیسی .پته خوست ښار دوهمه ناحیه قوماندانی سرک د مرکزي جامع مسجد مخامخ ښاروالی ریاست اداری تعمیردریم پوړ. ۳٦۸۲

***

## د خوست ښاروالی ریاست خبرتیا:

خوست ښاروالی ریاست په پام کی لري چی ۴ څلو عرادي مختلف النوع وسایط لکه ۲ عرادي سوپر جرمنی موتر ۱ یو عراده کانډایی پرونر او ۱ یو عراده بابوکیټ، قرارداد پرانیستی داوطلبی ته د ټرلو افرونو وړاندي کولو لپاره شرایط درلودنکو شرکتونو ته بلنه ورکوي چې خپل غوښتنلیکونه دی د اعلان وروسته تر ۲۱ ورځو پوری خدماتو تدارکاتو مدیریت ته وسپاری ، شرطپاڼه تر لاسه کولی شی، تضمین نغد اخیستل کیږی، دلا زیاتو معلوماتو لپاره کولی شی چی په ۰۷۹۹۱۲۲۲۲۲۱ شمیره اړیکه ونی ی.

پته خوست ښار دوهمه ناحیه قوماندانی سرک د مرکزي جامع مسجد مخامخ ښاروالی ریاست اداری تعمیر دریم پوړ. ۳٦۸۱

## نیمروز کې یو شمېر بېځایه شوې ...

مولـوي نصـرت نیمروز کـې لـه خیریه بنسـټونو او سـوداګرو وغوښـتل، چـې د کډوالو چـارو او د طبیعي پېښـو پر وړاندې د مبارزې ریاسـتونو په همغږۍ سـره له داخلي بېځایه شویو کورنیو سـره د خوراکي توکو او جامو مرسته وکړي.

## د نورستان د احصائیې ریاست ۳ میلیونه ...

او معلوماتو رئیس مولوي قدرت الله شمشېر له باختر آژانس سره په خبرو کې وویل، چې د اسلامي امارت له راتګ څخه تر دې دمه ۲۰ زره ۹٤ کاغذي او ٤ زره ۳۵۳ برېښنايي پېژندپاڼې وېشل شوې، چې له درکه یې ۳ میلیونه، ٤۳۱ زره او ۵۰۰ افغانۍ عواید راټول شوي دي.

نوموړي زیاتوي، چې اوســمهال هم د پېژندپاڼو د وېش لړۍ په نورمال ډول روانه ده او هڅه کوي راتلونکي کې په ولسوالیو کې هم د برېښنايي پېژندپاڼو د وېش مرکزونه جوړ کړي.

## غزني کې سوالګرو سره ...

کورنیو سره یوځای د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرسته شوې ده. د مسولینو په وینا، په دغه مرسته کې ۲۰ کیلو وریجې، ۱۰ لیټره غوړي، ۷ کیلو بــوره، ۷ کیلو لوبیا، ۵۰ کیلو غنم، ۳.۵ کیلو ماش، یو، یو د روغتیا او آشپزخانې کېټونو مرسته شوې ده.

## پکتیا کې د چرګو سلګونه واړه فارمونه ...

چې د یادو فارمونو جوړولو لپاره یې تر دې وړاندې وسایل وېشلي او د چرګانو خونې هم جوړې شــوې دي. د نوموړي په وینا، اوســمهال یې ۵۸۸ کورنیو ته ۱۵۰ کیلو د چرګو دانه، ۳ د دانې او ۳ د اوبو لوښــې ورکړل شــول او نږدې راتلوونکو ورځو کې به پر هرې کورنۍ ته ۳۰ چرګان هم ووېشل شي.

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاســت مسوولین د اړمنو کورنیو لپاره د یادو فارمونو جوړېدل ګټور بولي او وايي، چې دغه فارمونه به د دوی کورني اقتصاد په پیاوړتیا کې مهم رول ولري.

## په واورو کې بند پاتې ایراني انجینران ...

چورلکې پر مټ وژغورل شــول. دغه ایراني انجینران پرون له ایران هېواد څخه د خواف-هرات اوســپنې پټلۍ د تخنیکي ارزونې لپاره هــرات ته په درزین کې راغلي او تر ارزونې وروســته بېرته ایران ته د ســتنېدو پرمهال د شمتیغ دښــته کې بند پاته وو، چې د سړې هوا او خوراکي موادو نشتوالي او سیمې ته د موټرو د تګ د امکان نشتون له امله یې ژوند له خطر سره مخ وو.

## قطر له افغانستان سره خپلې مرستې ...

خپلو مرســتو ته دوام ورکوي. د قطر د بهرنیو چارو د وزارت په خبرپاڼه کې راغلي چې په دې لیدنه کې د ملګرو ملتونو په مشرۍ د ځو اړخیزو اقداماتو پر اهمیت ټینګار شوی دی.

## ننګرهار کې سلګونه جریبه ځمکه ...

به ترې ۲.۵ میلیونه افغانۍ عواید ترلاسه شي. د یادونې وړ ده، چې د درونټې بند د کاسې اړوند سلګونه جریبه ځمکه پخواد ځینو خلکو له لوري غصب شوې وه، چې د اسلامي امارت په هڅو له غصب خلاصه شوه.

## پروژه‌های جدید عمرانی و بازسازی ...

که در زمینهٔ عرضهٔ خدمات بهتر شهری، گام های استوار برای توسعه و مدیریت خوب شهری، برداشته خواهد شد.

شــاروال کابل افزود که برای دورنما، توســعه و رشد پایدار شهر؛ پروژه‌های جدید عمرانی براساس اصل انکشاف متوازن و نیازسنجی اولویت ها؛ برنامه ریزی شده و شامل پلان ۱۴۰۲ است.

در این پلان ســاخت سرک ها، تنویرسرک ها، ساخت پیاده روها، کانـــال ها، آبروها، پل ها و پلچک ها، پارک ها و ســاحات ســبز؛ خریداری ماشینری و تجهیزات، دیزاین تعدای از پروژه ها، باز سازی و ترمیم سایر تاسیسات شهری، شامل است.

او گفت: پلان انکشــافی سال ۱۴۰۲ شاروالی کابل، بر اساس بحث های مشورتی و تخنیکی ، یک پلان جامع و کامل خواهد بود.باختر

## افغانستان کې شوي پرمختګونه ...

نظریات او اندېښنې د بهرنیو چارو وزارت له سرپرست سره شریکې کړې او زیاته یې کړه، چې د ملګرو ملتونو مرستې به له افغانستان سره دوام ولري.

په ورته وخت کې د بهرنیو چارو وزارت سرپرست په دغه کتنه کې وویل چې په هېواد کې مثبت فعالیتونه تر بل هر وخت زیات شوي، ملوک الطوائفي، فساد او نشه یي توکي مواد له منځه تللي. نوموړي زیاته کړه، چې نړیواله ټولنه باید یادو شویو پرمختګونو ته د قدر په سترګه وګوري او د هېوادوالو کنګل شوې شتمنۍ، بانکي محدودیتونه او نورې اړونده ستونزې حل کړي. په پای کې دواړو لوریو ژمنه وکړه، چې شته ستونزو ته د حل لارو موندلو په موخه به ګډو همکاریو او تفاهم ته دوام ورکوي.

## وزیر انرژی و آب شرکت های ترکی ...

خورشــیدی در افغانستان با مسؤولین فنی و تخنیکی این وزارت از نزدیک صحبت کنند و پروژه‌های خود را در زمینهٔ برق خورشیدی تطبیق کنند.

این در حالیســت که سرپرســت وزارت انرژی و آب به منظور تمدید برق واردات تاجکســتان به ترکیه سفر کرده است، و هفتهٔ گذشته قرار داد تمدید واردات برق از تاجکستان را برای یک سال دیگر امضا کرد.

## بغلان کې نږدې ۷۵۰۰ جریبه ځمکه ...

امرخېل زیاته کړه، چې په بغلان کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست د رییس قاري بلال په مشرۍ د غصب د مخنیوي کمېټه د عدلیې، قومندانۍ او نورو اړوندو ارګانونو سره په پوره همغږۍ هڅه کوي څو په دې ولایت کې ټولې هغه دولتي ځمکې چې کلونه په غیرقانوني ډول د یو شمېر غاصبینو له لوري غصب شوې بېرته خلاصې او د حکومت ملکیت یې وګرځوي.

## ننګرهار کې ۸۰۰ جریبه دولتي ځمکه ...

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رئیس مولوي عبدالستار محمد په مشرۍ ټاکل شوې کمېټې سره رود ولســوالۍ ته په کاري سفر کې د خیرآباد سیمې د کاریز ګروم کلي کې ۸۰۰ جریبه ځمکـــه، چې د غاصبینو لخوا غصب او په یو اندازه ســاحه کې یــې کورونه هم جوړېدل تثبیت کړې ده. د دغه کمېټې رئیس عبدالســتار محمد پر ځايي اوســېدونکو غږ وکړ، چې په دولتي غصب شــویو ځمکو بانـــدې د کورونو له جوړولو څخـــه ډډه وکړي. نوموړي د سره رود ولســوالۍ امنیه قومندانۍ ته هم سپارښــتنه وکړه، چې په یاده سیمه کې د کورونو د جوړولـــو مخه ونیسي او چاته اجازه ورنه کړي، چې په غصب شــوې ځمکه کې کورونه جوړ کړي.

## امتحان اختصاصی چهارده پاسان ...

ساخته شده که برای اشتراک کننده گان قابل درک بوده و به فصاحت و گرامر آن توجه زیاد صورت گرفته است. امتحان اختصاصی چهارده پاســان، پوهنحی های شبانه و مدارس دینی، بخشی از امتحان کانکور عمومی می باشد که برای مدت کوتاه تعطیل شده بود و روز پنجشنبه خوشبختانه به گونهٔ شفاف و منظم از سوی ادارهٔ ملی امتحانات اخذ گردید. نتایج امتحانات مذکور در چند روز آینده اعلان خواهد شد.

## شیخ ندا محمد ندیم برنامه‌ها و نیازمندی‌های ...

و برخی مســایل دیگر بحث صورت گرفت. همچنان در این نشست، روی دادن امتیاز بهتر به استادان دارای سند دکتورا، منظوری تشکیل بخش های تخصصی در پوهنتون‌های زون‌ها، معافیت استادان از پرداخت فیس برنامه ماستری و دکتورا و طرح معاش برنامهٔ ماستری و دکتورا بحث شد. به همین ترتیب چگونه گی استفادهٔ مشترک وزارت‌خانه‌های مرتبط از فرصت‌ها و امکانات وزارت تحصیلات عالی؛ ایجاد زمینهٔ کار برای محصلان فارغ التحصیل، در نظرگرفتن بودجه انکشــافی برای برنامه‌های تحقیقاتی، اختراعات و نوآوری پوهنتون‌ها در سال ۱٤۰۲، تکمیل کردن کارها و افتتاح شهرک استادان پوهنتون تخار، در نظر گرفتن حقوق برای همکاران تخنیکی (لابرانت) پوهنتون‌ها، بررسی گرفته شد و دراین زمینه ها، تصامیم لازم اتخاذ شد.

## هوايــي ځــواکونو په جوزجان کې ۱۴ تنه ...

لواد عامه ساتنې آمریت چارواکي وايي، چې تیره ورځ د سختې واورې او توپان له امله د یوې ښځې او یو ماشوم په ګډون ۱٤ تنه مسافر د جوزجان د فیض آباد ولسوالۍ په ګاوخور کلي کې بند پاتې شوي وو، چې د دغې لواد هوايي ځواکونو له لوري په الوتکه کې امن سیمې ته ولېږدول شول. د هغــوی په خبره، تېــر کې له الوتکو څخــه د هېوادوالو د ځېلو لپاره کار اخیســتل کېده، خو د اســلامي امــارت د واکمنۍ پــر مهال په هر ډول شــرایطو کې د افغانســتان د خلکــو د خدمت او آســانتیاوو لپاره کار کوي.

## هلمند کې د اوبو رسولو یوه شبکه ګټې اخیستنې ...

دغه شبکه د یونیســف په مالي ملاتړ د موسی قلعه ولسوالۍ په خواجه داد سیمه کې د نږدې ٦ میلیونو افغانیو په لګښت جوړه شوې، چې پرمټ به یې ۲۰۰ کورنۍ له پاکو اوبو څخه برخمنې شي.

د نوموړي په وینا، د دغې شبکې چارې د ٦ میاشتو په موده کې بشپړې شوې دي.

## در جلسهٔ کمیسیون اداری پیرامون اعمار ...

در مورد اعمار استدیوم بین المللی کرکت در ساحه الوخیل شهر کابل، گزارش تدویر کورس های آموزشی اداری و تهیه مضامین اداری جهت ارتقای ظرفیت فارغان مدارس دینی در مرکز و ولایت‌ها و نیز طرح مدیریت و تنظیم وسایط نقلیه در ترمینال‌ها و توقف‌گاه‌های ترانسپورتی در کشور بحث همه جانبه صورت گرفت و تصامیم لازم اتخاذ شد.

## بهترین فرصت برای سرمایه‌گذاری در حوزه معادن ...

در حوزه معادن افغانستان به وجود آمده‌است و ما سرمایه گذاران ایرانی را تشویق به این کار می کنیم.

این دیپلمات ایرانی این گفته ها را، به روز چهارشنبه ۲۱ جدی، در مصاحبه با خبرگزاری بازار بیان داشته است.

او گفته است: همکاری با افغانستان در حوزه‌های مختلف، به‌عنوان یکی از راهبردهای اصلی ایران، مبتنی بر نگاه انسان‌دوستانه و اخلاقی - اسلامی و تامین منافع اقتصادی، در دستور کار کشورش قرار دارد.

او از اهمیت صنعت فولاد در کشورش سخن گفته و افزوده است که هیچ کشوری بهتر از افغانستان در حوزه معادن برای ایران، وجود ندارد. قمی افزوده است: "افغانستان با توجه به روابط برادری، همسایه‌گی و نزدیکی مسافت، از نظر انجام فعالیت‌های اقتصادی و انتقال دانش و فناوری برای ایران یک کشور نزدیک است. لذا، ما می‌توانیم در این حوزه وارد عمل شده و به سرمایه‌گذاری بپردازیم که در این صورت هم این حوزه به توسعه اقتصاد افغانستان کمک می کند و هم برای تولید صنعت فولاد جمهوری اسلامی بسیار کارآمد است."

سفیر ایران در کابل گفته است که در حال حاضر بخشی از نیازهای کالاهای اساسی ایران، از طریق واردات از کشورهای دوردست مانند استرالیا، برازیل و کشورهای امریکای لاتین تامین می‌شود، در حالی که ایران می‌تواند، از افغانستان کار گیرد.

باید گفت که چندی قبل سرپرست وزارت معادن و پترولیم افغانستان در دیداری با شماری از سرمایه گذاران ایرانی از آنان خواسته بود که در بخش معادن افغانستان سرمایه گذاری کنند.

همچنان افغانستان از سرمایه گذاران کشورهای دیگر هم خواسته است که از فرصت‌های موجود در افغانستان استفاده کنند و در بخش های مختلف سرمایه گذاری کنند.

## اسلامي امارت به هیڅ دښمن پرېنږدي ...

قربانیانو ته یې دعا وکړه. مولوي امیر خان متقي د خپل ایراني سیال د غمشریکۍ له ځرګندولو مننه وکړه او زیاته یې کړه، چې دښمنان غواړي په هېواد کې د حاکم اسلامي نظام په برکت ډاډمن امنیت ګډوډ کړي. متقي همدارنګه وویل چې اسلامي امارت به هیڅ دښمن پرېنږدي چې امنیت اخلال او هېوادوال له تشویش او امنیتي ننګونو سره مخ کړي.

## به امنیت شرکت‌های قراردادی داخلی ...

معادن ســرمایه ملی و اساس ساختن عواید ملی کشور اســت و در راستای حفظ این سرمایه ملی و تأمین شفافیت آن کوشش کامل نمائید. ملا برادر آخند هم‌چنان به مسؤولان امنیتی دستور داده است که در بخش امنیت قراردادیان داخلی و خارجی در ولایت‌های مربوط توجه جدی نموده و به هیچ‌کس اجازه ندهند که روند عملی و سریع آبادانی و پیشرفت کشور را اخلال نمایند.

## د نجونو د زده کړو په برخه کې موقتي ګام ...

پر خپله ټویټر پاڼه لیکلي چې د افغانستان ا.ا د اسلامي همکاریو د سازمان له غونډې او د افغانستان په اړه له اعلامیې څخه هرکلی کوي.

هغه زیاته کړې، نړیوال باید له افغانانو سره خپلو همکاریو ته دوام ورکړي او د افغانستان په کورنیو چارو کې مداخله ونه کړي.

مجاهد ویلي، د ښځو د زده کړو په اړه د دغه سازمان اندېښنې د درک وړ دي، خو اسلامي امارت په یاده برخه کې موقتي ګام اخیستی چې د زمینې په مساعدېدو سره به دغه اندېښنه رفع شي. نوموړي ویلي، اسلامي امارت له ټولو نړیوالو سازمانونو خصوصا د اسلامي همکاریو له سازمان څخـــه غواړي چې له اســـلامي امارت سره له نـــږدې تفاهم ولري او له افغـــان ولس سره خپلو همکاریو ته دوام ورکړي.

دوه ورځې مخکې د سعودي عربستان په جدې ښار کې د اسلامي همکاریو سازمان د افغانستان د روان وضعیت په اړه بیړنۍ غونډه کړې وه. د دغه سازمان غړو هېوادونو د افغانستان پر وروستیو حالاتو بحث وکړ او د نجونو پر زده کړو او د ښځو پر کار پر بندیزونو یې اندېښنه وښوده.

## روسیه د افغانستان کورنیو چارو کې لاس ...

لېواله دی چې په مسکو کې خپل دیپلوماتیک حضور پراخ او کچه یې هم لوړه کړي.

د بهرنیو چارو وزیر د افغانســتان او روسیې ترمنځ پر سوداګریزو راکړو ورکړو هم خبرې کړې او له روسي لوري یې غوښــتي چې دواړه هېوادونه پر هغو لارو چارو کار وکړي چې دوې اړخیزې سوداګرۍ ته وده ورکوي.

په دې کتنه کې د بهرنیو چارو وزیر له روسیې څخه د نفتو، ګازو او غنمو پر واردولو هم خبرې کړې او له روسي پلاوي څخه یې غوښتي چې د ګمرکي تعرفې په برخه کې له افغانستان سره ځانګړې چلند وشي.

د روسیې ځانګړي استازي د بهرنیو چارو وزارت ته څېرمه د پرونۍ پېښې له امله غمرازي څرګنده کړې او زیاته کړې یې ده چې دښمنان هڅه کوي چې افغانستان ناامنه وي. ښاغلي کابلوف ویلي چې روسیه په افغانســتان کې ثبات او پرمختګ غواړي او نه غواړي د غربي هېوادونو په څېر پر افغانستان نیوکې وکړي او په کورنیو چارو کې یې لاسوهنه وکړي.

کابلوف زیاته کړې، چې روسیه نه غواړي افغانستان له نړیوالې ټولنې څخه منزوي شي. هغه ویلي چې دواړه هېوادونه باید په دې اړه ګډې هڅې وکړي. د روسیې د ولسمشر ځانګړي استازي زیاته کړې چې هېواد به یې په ګڼو برخو کې افغانستان سره خپلو همکاریو ته ادامه ورکړي. هغه ویلي چې افغانستان د پاکستان، منځنۍ اسیا او روسیې ترمنځ د سوداګرۍ په وده کې ګټور رول لوبولای شي.

## د تکفیري انګېرنو پرخلاف جدي مبارزه ...

ځینو مدارســو، مکاتبو او پوهنځیوکې د همداسې غیر منطقی افراطیت ننګه کیږي او فکري تومنه ورکول کیږي. دلته باید دا یادونه هم وشــي چې اوس مهال زموږ هېوادکې د حکومت پرخلاف جګړې لپاره هیڅ معقول دلیل او منطقی داعیه نشــته. مانا داسې کومه عقلی توجیه اوتاویل نه لیدل کیږي چې پرمټ یې یوکس قربانۍ او سرښــندنې ته وهڅول او ســرورکولو ته چمتو شي. البته فقط دوه لارې ممکنې دي چې یوه یې همدا تکفیري نظریه ده چې یونیم مختل الذهن انســان پرې قانع کېدلی اوله خپل ســره تېربدلی شــي او دویمه لاریې د پیسو ګټلو تلوســه ده چې په دې کې بیا خطرمنل شته خو حتمي سرښندنه پکې نشته. ځکه خو دا ډول کسان یا تبلغاتي ډګرکې کار کوي یاچاته پټ بمونه ږدي او مختلفوځایو کې چاودنې کوي. دا ډله کســان یوازې او یوازې پیسې غواړي. دوی مطلق مفسدین، تخریب کاران اوغله دي چې له دې پرته بل هیڅ کوم سیاســي او فکري ارمان نه لري نو په هره ناروا طریقه یې چې ترلاســه کولی شي، صرفه نه کوي. پاتې شوه رومبۍ ډله، هغه چې د خلافت د قیام لپاره خلک سرښندنې ته چمتو کوي، ددوی قانعکولو لپــاره اړینه ده پرهغو فکري مراکزو یې کاروشــي کوم چې داډول شــاګردان روزي. مثلاً د همدې مفکورې اســتادان باید همېشــه ترڅار لاندې او تر ممکنه حده د حکومت په غېږ کې ونیول شــي. ضمنا په کار ده چې د همدوی له نامتو او مشــهورو کســانو د امارت پرخلاف د جګړې د حرمت فتواوې صادرې او د ټول هېواد په ګوټ ګوټ کې نشر کړی شــي. دغه راز دګردې اسلامي نړۍ دمشهورو عملماؤ فتواګانې هم باید خپرې او د هر ډول رســنیزو وســایلو له لارې په جوماتونو، مدارسو او ټولو تعلیمی مراکزو کې تر خواصو او عوامو ورســول شي. ســربېره پردې راډیو، تی وي او نورو چاپي او ټولنیزو رسنیو کې هم باید وخت پروخت د تکفیري انګېرنو او د خوارجو بدمرغي او مفسدې ډلې پرخلاف خبرې او علمي بحثونه وشي. ځکه زموږ هېواد تېرو څلورولســیزو جګړو او کفري پرغلونو واقعاً د افراطیت پرخوا بیولی او د یو شــمیر ځوانانو اذهان کاملاً بې تولې او کاږه معلومیږې چې داعشــیانوته یې د جلب او جذب چاره هم ترېوې اندازې اسانه کړې ده.

# Shariat

Twice printed in week

**Shariat**

**Published by**

Islamic Emirate of Afghanistan

M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies

0782080666

Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852

Email: Shariatdaily@gmail.com

WWW: dailies.gov.af / shariat :ویب سایت

**شریعت**

د لیکوال هیئت تر نظر لاندې

د دولتي ورځپاڼو عمومي رییس:

م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦

مسؤول مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲

د شریعت برېښنا لیک:Shariatdaily@gmail.com

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوي ودانۍ

شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷٦۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Saturday 14 January 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 119


## وزیر انرژی و آب شرکت های ترکی را به سرمایه گذاری دعوت نمود

سرپرست وزارت انرژی و آب از شرکت (هلدینگ دی بی ای) ترکیه که سومین شرکت تولید برق آفتابی در اروپاست، خواسته است که امکانات تولید برق آفتابی در افغانستان را، بررسی کنند. غلام جیلانی حق پرسرست رئیس اطلاعات ونشرات وزارت انرژی وآب به آژانس باختر گفت: عبداللطیف منصور سرپرست وزارت انرژی و آب و ملا محمد حنیف حمزه رئیس اجرایی شرکت برشنا که در یک سفر کاری به ترکیه رفته اند، بامحمد طه پینار رئیس بخش آسیایی شرکت تولید برق خورشیدی (هلدینگ دی بی ای)، دیدار کردند. دراین دیدار' رئیس شرکت یاد شده دربارهٔ امکانات و توانمندی آن شرکت، در تولید برق خورشیدی معلومات داد. سرپرست وزارت انرژی وآب از مسؤولان این شرکت خواست، به منظور ارزیابی امکانات سرمایه‌گذاری در تولید برق... ص۷



د ملګرو ملتونو ځانګړې استازې:

## افغانستان کې شوي پرمختګونه ستایو او مرسته یې کوو



شریعت: د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړې استازې روزا اوتنبایو تیره ورځ د بهرنیو چارو وزارت له سرپرست مولوي امیر خان متقي سره وکتل.

په پیل کې اوتنبایو په هیواد کې د مثبتو پرمختګونو او فساد سره د مبارزې په برخه کې له لاسته راوړنو خوښي وښوده او زیاته یې کړه، چې نړیوالې ټولنې ته یې په دې اړه مثبت پیغام رسولی دی. همدارنګه نوموړې د ښځو د کار او زده کړو په اړه د نړیوالو... ۷مخ

شاروال کابل:

## پروژه‌های جدید عمرانی و بازسازی برای سال ۱٤۰۲ در نظر گرفته شده است

به ریاست مولوی عبدالرشید شاروال کابل، نشست هیئت رهبری این نهاد برگزار شد و در رابطه به ترتیب و اجرای برنامه‌های بهتر خدماتی و توسعه‌یی در شهرکابل، بحث صورت گرفت.

در این نشست شاروال کابل، در صحبت هایش بر تسریع روند خدمات تنظیفی، سرسبزی و سروی و دیزاین شماری از پروژه‌ها، تدارک و اقدامات برای برخی پروژه‌های جدید زیربنایی، تمویل تجهیزات و امکانات منابع، تحقق نظم شهری و استفاده بهینه از امکانات موجود به مسوولان مربوط هدایت لازم داد که در پی آن عرضهٔ خدمات شهری بهتر از گذشته شده و گام‌های استوار برای توسعه و مدیریت بهتر شهری برداشته خواهد شد.

وی همچنان از مسوولان مربوط خواست... ص۷


کابل ښاروالی

د خپرونو او عامه پوهاوي ریاست



د بهرنیو چارو وزیر له خپل پاکستاني سیال سره په تماس کې:

## حکومت او ملت به د هغو دښمنانو مخه ونیسي چې امنیت اخلالوي

شریعت: د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر بلاول بوټو زرداري تیره ورځ د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو له وزیر ښاغلي مولوي امیر خان متقي سره ټیلیفون خبرې وکړې. ښاغلي زرداري په دې ټیلیفوني خبرو کې، د بهرنیو چارو وزارت په مخکې پرغزیدلي سرک تېره ورځ ترسره شوی وحشیانه برید پر کلکو ټکو وغانده او د خپلې ژورې خواشینۍ او تسلیت مراتب یې وړاندې کړل، دغه راز یې د یادې پېښې قربانیانو ته دعا وکړه.

محترم مقتي صاحب له بلاول بوټو څخه د غمشریکۍ او خواخوږۍ له څرګندولو مننه وکړه او زیاته یې کړه چې دښمنان غواړي چې امنیت اخلال کړي خو زموږ حکومت او ملت به یې په کلکه مخه نیسي.

## ننګرهار کې سلګونه جریبه ځمکه له غصبه خلاصه شوه



شریعت: د ننګرهار درونټې بند د اوبو د کاسې اړوند ۷۰۰ جریبه ځمکه له غصب خلاصه او دوو شرکتونو ته په قرارداد ورکړل شوه.

د ننګرهار برېښنا رئیس مولوي جان محمد انقلابي وویل، چې دغه ځمکه دوو شرکتونو ته د کرکیلې په موخه ورکړل شوه، چې هر کال ... ۷مخ

## فراه کې پر ۳ جریبه ځمکه کرل شوي کوکنار واړول شول

د فراه سیمه ییز مسوولین وایي، چې د دغه ولایت په پشتکوه ولسوالۍ کې پر ۳ جریبه ځمکه کرل شوي کوکنار یې له منځه وړي دي.

د پشتکوه ولسوالۍ امنیه قومندان مخلص آغا باختر آژانس ته په استول شوې خبرپاڼه کې ویلي؛ چې د دې ولسوالۍ اړوند د سمک، موسی کلا او کاریګېزک سیمو کې شاوخوا ۳ جریبه ځمکه کې کرل شوي کوکنار د امنیتي او کشفي ځواکونو له خوا واړول شول.

## موسسهٔ مطوفی عربستان متعهد با همکاری بیشتر با حجاج افغانی گردید

هیئت با صلاحیت وزارت ارشاد، حج و اوقاف که در عربستان سعودی بسر می برد روز گدشته، با رئیس بخش جنوب آسیا، در موسسه مطوفی عربستان سعودی در شهر جده ملاقات کرد.

وزارت ارشاد حج واوقاف، با نشر خبرنامه یی گفته است، که در این دیدار، در ارتباط ارایه خدمات بهتر به حجاج افغانستان تبادل نظر صورت گرفت و در عین حال مشکلات سال‌های گذشته، نیز مورد بحث قرار گرفت.

اسامه عبدالله دانش رئیس جنوب آسیا، در موسسهٔ مطوفی عربستان سعودی که مدیریت حجاج کشورهای جنوب آسیای را به عهده دارد، جهت اصلاح و جبران کمبودهای سال‌های گذشته و ارائه خدمات هرچه بهتر به حجاج افغانستان، وعده همکاری داد.

## لوګر کې د اوبو رسولو د ٤ پروژو ترون لاسلیک شو



شریعت: لوګر کې د کلیو، بیارغونې او پراختیا ریاست او پراختیایي شوراګانو ترمنځ د څه باندې ۲۹ میلیونو افغانیو په لګښت د اوبو رسولو د ٤ پروژو د رغولو ترون لاسلیک شو.

د لوګر د کلیو، بیارغونې او پراختیا ریاست مطبوعاتي مسوول صبغت الله نائب خېل وویل، چې په دغو پروژو کې ۲ شبکې په بابوس او غیرت آباد سیمو کې، یوه شبکه د خروار ولسوالۍ په طاوس سیمه کې او یوه پروژه هم د زرغون شهر ولسوالۍ په دهمنکه سیمه کې پلي کېږي. نوموړي زیاته کړه ، چې دغه پروژې د یونیسف په مالي ملاتړ پلي کېږي، چې پر مټ به یې ۱۷۰۰ کورنۍ له پاکو اوبو څخه برخمنې شي.

## قطر له افغانستان سره خپلې مرستې ته دوام ورکوي

د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیالې د قطر د بهرنیو چارو له وزیر سره د افغانستان پر وضعیت او په افغانستان کې د قطر او ملګرو ملتونو ترمنځ د همغږو هڅو په اړه خبرې کړې دي. د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیالې آمنې محمد قطر ته د خپل سفر په ترڅ کې د دغه هیواد د بهرنیو چارو له وزیر شیخ محمد بن عبدالرحمن آل ثاني سره کتلي دي. د قطر د بهرنیو چارو وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې په دې کتنه کې دواړو لورو د افغانستان پر وضعیت او په دغه هیواد کې د دوحې او ملګرو ملتونو ترمنځ د همغږو هڅو په اړه خبرې کړې دي. دغه وزارت زیاته کړه چې قطر په دغه هیواد کې بشري وضعیت ته په پام سره د افغانستان له خلکو سره ... ۷مخ

## د ژورنالیزم پوهنځیو د تعلیمي نصاب د بیا کتنې سیمینار پای ته ورسېد

د لوړو زده کړو وزارت علمي معینیت له لوري د هېواد په کچه پوهنتونونو، د ژورنالیزم پوهنځیو د تعلیمي نصاب د بیا کتنې په موخه علمي سیمینار جوړ شوی ؤ چې پکې د هېواد اړوندو پوهنتونونو یو شمېر استاذانو او اړونده ادارو، اطلاعاتو او کلتور، حج او اوقافو او عدلې وزارتونو استازو هم ګډون درلود چې پکې استاذانو په اسلامي فکر د محصلینو روزنه او هغه مضامین چې ورته اړتیا لیدل کېده د اوږدو بحثونو او څېړنو وروسته د رأیو په اکثریت تصویب او ځای پر ځای کړل شول چې په دولتي او غیر دولتي پوهنتونونو کې به یو شان تدریسیږي.

یاد علمي سیمینار د مرغومې په اوولسمه پیل او د همدې میاشتې په دوه ویشتمه نېټه پای ته ورسېده. په یاد وزارت کې د همدغه ډول سیمینارونو جوړېدل د نصاب کمېټې مشر عبدالرؤف فراهي د هېواد په تاریخ کې یو ګټور ګام وباله او دې ته ورته د نورو علمي سیمینارونو جوړول یې د هېواد پرمختګ او ځوان نسل د ښې روزنې لپاره اړین وبلل.

په دغه سیمینار کې استاذان په دریو کلسترونو، ژورنالیزم، عامه اړیکو او د مطالعې او ارتباطاتو په ګروپونو وېشل شوي وو چې هر یو یې په خپل وار خپل ګزارشونه د سیمینار برخه والو ته وړاندې کړل چې د نصاب کمېټې د مسؤلینو له خوا له تاوده هر کلي سره مخ او وستایل شول. **سالمزی**

## غزني کې سوالګرو سره مرسته وشوه

د غزني سیمه ییز مسولین وایي، چې په دغه ولایت کې یې میاشت وړاندې د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمان او د دغه ولایت د والي مولوي محمد اسحاق آخندزاده له لارښوونې سره سم یې د سوالګرو راټولولو لړۍ پیل کړې ده.

په دې لړۍ کې ۱٦۵ مستحق سوالګر پېژندل شوي، چې ورسره د ۳۰ نورو بېوزلو... ۷مخ

## پکتیا کې د چرګو سلګونه واړه فارمونه جوړېږي

شریعت: د پکتیا په مرکز ګردېز ښار کې خوړو نړیوال سازمان په مالي لګښت د هګۍ ورکوونکو چرګو ۵۸۸ واړه فارمونه جوړېږي.

د دغه ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رئیس مولوي عبدالرووف سعید وویل، چې د دغه ریاست تر چتر لاندې د خوړو نړیوالې ادارې په مالي لګښت او د افغانستان لپاره د ناروې کمېټې په تخنیکي همکارۍ مرکز ګردېز ښار کې د هګۍ ورکوونکو چرګو ۵۸۸ واړه فارمونه جوړېږي.



په ورته وخت کې د افغانستان لپاره د ناروې کمېټې د پکتیا د کرنې برخې مسؤول رحمت خان باختر آژانس سره په خبرو کې وویل ... ۷مخ

## واورو کې بند ایراني انجینران او افغان سرتیري وژغورل شول



شریعت: د افغانستان د ملي دفاع وزارت د هوایي ځواکونو له لوري په هرات ولایت کې ٤ تنه ایراني انجینران او ۵ تنه د اسلامي امارت ځواکونه، چې د درنې واورې له امله بند پاتې وو، د ... ۷مخ

## د نورستان د احصائیې ریاست ۳ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي دي

د نورستان د احصائیې او معلوماتو ریاست مسوولین وایي، چې د اسلامي امارت له بریا وروسته یې تر دې دمه ۳ میلیونه، ٤۳۱ زره او ۵۰۰ افغانۍ عواید راټول کړي او د دولت خزانې ته یې سپارلي دي. د دغه ولایت د احصائیې ... ۷مخ

## بادغیس، نیمروز او سمنګانو کې نږدې ۳ زره اړمنو کورنیو مرسته ترلاسه کړه

په بادغیس، نیمروز او سمنګانو کې زره ۷۰۵ اړمنو کورنیو مرسته ترلاسه کړه.

په بادغیس کې ۲۲٤۹ کورنیو سره د غیر خوراکي توکو مرسته وشوه.

د یو بل خبر له مخې؛ د نیمروز په مرکز زرنج ښار کې پر ۲۵۰ بې وزله کورنیو مرسته ووېشل شوه، چې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه او ۵۰ کیلو وریجې ووېشل شوې. په سمنګانو کې د طبیعي پېښو سره د مبارزې ریاست له لوري له ۲۱۲ سېلاب ځپلو کورنیو سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرسته وشوه، چې هرې کورنۍ ته ۱ بوجۍ اوړه، څلور بوتله مربا او ٤ جوړه د ماشومانو جامې ورکړل شوې.



## امتحان اختصاصی چهارده‌پاسان برگزار گردید

امتحان اختصاصی چهارده پاسان، پوهنځی های شبانه و مدارس دینی کابل و ۲۳ ولایات کشور به گونهٔ شفاف برگزار گردید.

در این امتحان به حدود ۷۹۰۰ داوطلب کارت‌های شمولیت امتحان توزیع شده بود که از جمله ۲٦۰۰ تن از ولایت کابل و ۵۳۰۰ تن از ولایات دیگر اشتراک ورزیده بودند.

از طریق این امتحانات علمای کرام و فارغان مدارس شامل پوهنځی‌های شرعیات و تعلیمات اسلامی، تعداد زیاد جوانان شامل پوهنځی‌های شبانه و از طریق امتحان اختصاصی چهارده پاسان در رشته‌های مربوطه شامل برنامه‌های لیسانس می گردد.

شیخ عبدالباقی حقانی رئیس عمومی ادارهٔ ملی امتحانات در جریان باز نمودن صندوق سؤالات به داوطلبان از شفافیت کامل در امتحانات اطمینان داد و رقابت علمی آن‌ها را جهت راه یافتن به نهاد های تحصیلی تحسین نمود.

شیخ عبدالباقی حقانی گفت: در این امتحان سؤالات هر بخش طبق نصاب‌های مربوطه طوری... ۷مخ

## نیمروز کې یو شمېر بېځایه شوې کورنۍ مناسب ځای ته ولېږدول شوې

د نیمروز د کډوالو او بیا راستنېدونکو چارو ریاست مسوولین وایي، چې په دغه ولایت کې یې یو شمېر بېځایه شوې کورنۍ مناسب ځای ته لېږدولې دي. د دغه ولایت د کډوالو او بیا راستنېدونکو چارو رئیس مولوي صدیق الله نصرت د باختر آژانس خبریال ته وویل، چې هغه داخلي بې ځایه شوې کورنۍ چې د زرنج ښار په ختیځ کې یې په خېمو کې ژوند کاوه ورزشي سالون ته لېږدولې دي... ۷مخ

**که ژوندون غواړې په لستوڼي کې خنجر وساته = دنیا وجود د هیڅ کمـــزوري او مجبورنه مني**